منبع الجهاد

علمي ، جهادي، سیاسي خپرونه

باید شوراته داهلیت له مخې غړي راوغوښتل شي علماء-جهادي قوماندانان او مخور به دسازش اورشوت پرته دحکومت جوړولو ته اجازه ورنکړي

الحاج حقاني

له اتحاد علماء سره دمنبع الجهاد مرکه

دبري لار

دهیواد دوروستیو جریاناتو اودربري دحل په رابطه دمحترم مولوي محمد یونس«خالص»لیکنه

داتحادعلمای افغانستان - جهادی قوماندانانو او مخورو فعالیتونه مواقف لاسته راوړني اوپریکړې

دالحاج مولوي جلال الدین حقاني لخوا په کابل کي دوه مدرسي پرانستل شوي



دپل خشتي په جامع جومات کي دالحاج مولوي جلال الدین حقاني دوینا متن

دشرعي امیر دتاکني اوسولي دتینګښت په رابطه دعلماواواتحاد وروستي پریکړه لیك

بسم الله الرحمن الرحيم

الهي لارښوونې

لوي خداي(ج) فرمايي :

اي مومنانو ! له زغم نه کارواخلي ،دباطل پرستانو په مقابله کي ميړانه وښيي دحق د خدمت لپاره ملاتينګه وتړئ اوله الله (ج) نه ويريدونکي اوسي ، ښايي چي بري ومومي

(آل عمران ،۲۰۰ ايت)

دشرعي امير دټاکني داسلامي نظام او دسولې دټينګښت په رابطه دعلماوو اتحاد دفعاليتونو په مناسبت فوق العاده ګڼه

منبع الجهاد

علمي ،جهادي ،سياسي خپرونه

مؤسس : الحاج مولوي جلال الدين «حقاني»

دتأسيس کال : ۱۳٦۸ هـ ش ، ۱٤۰۹ هـ ق

څلورم کال ، دويمه گڼه د۱۳۷۱هـ ش کال لړم – ليندي –۱٤۱۳هـ ق ، ربيع الثاني جمادي الثاني –د۱۹۹۲م اکتوبر،دسمبر

دهيئت تحرير ترنظر لاندي

په دی گڼه کی

شمير	عنوان	مخ
۱	سرمقاله	(۲)
۲	دبري لار	(٤)
۳	مور کوښښ کوچي.......... ..«دالحاج حقاني مرکه»	(۹)
٤	داتحادعلمأ دغونډو اوفعاليتونو....«رپوټ»	(۱۵)
٥	داتحاعلماي افغانستان پريکړې	(۲٥)
٦	دفتحي اونصرت	(۳۸)
۷	مور په افغانستان داهل الحل والعقد .. «مرکه»	(٤۱)
۸	جهادي ادب	(٤٤)
۹	دزوي مينه «لنډه کيسه»	(٤٦)

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳) يونيورستي

ټاون – پيښور

دټيلفون نمبر :(۸۲۰) ميرانشاه

بانکي پته

حبيب بانک ، کنټ برانچ صدررود،څانگه

دحساب نمبر:(۲۰٥٥۹)

پيښور–پاکستان

کمپوزر : نجيب الله «حُدراڼ»

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

دمصیبتونو له گرداب نه دنجات ساحل ته

تقریباً اووه ، اوونیمی میاشتی شوی چی دکابل گوډاگی رژیم نسکور شوی کابل ته مجاهدین داخل شی او قدرت یی په لاس کی نیولی خو مجاهدین پردی نه دی بریالی شوی چې حکومت جوړ کړي ، که څه هم چی دگوډاگی رژیم ځنی بقایاوی اوس هم په یوه بل نامه زموږ دځینو دوستانو په غیږ کی ساه کاږی خو ددوی دی ساه کاږنی ته هم زموږ بی اتفاقیو موقع په لاس ورکړی کنه نواوس هم دوی دتیښتی انتظار باسی په کار خو داوه چی دروسیی تر ټوټه کیدو وروسته په داسی حال کی چی ټولو دگوډاگی رژیم نسکوریدوته دګلونو او میاشتو پرځای دقیقه شماری پیل کړی وه مجاهدینو په ګډه دیوه ګډحکومت او ګډی ستراتیژی مظاهره کړی وی ترڅو دگوډاگی رژیم دنسکوریدو سره جوخت قدرت یی په خپل لاس کی نیولی وی خومتأسفانه چی زموږ درهبرانو خودخواهیو او جاه طلبیو له وجی ځانځانی حرکتونو ادامه پیدا کړه او بلاخره دگوډاگی رژیم تر نسکوریدو وروسته دهغه څه سره خلك او مجاهدین مخامخ شول چی ټول ملت تری ویریده ، دقدرت د انتقال مسله په یوه بل نامه وځنډیده حزب اسلامی او جمعیت اسلامی دقدرت نیولو پر مسله دیوبل مقابل کی جبهه گیری وکړه دوه خونړی جنگونه وشول په لومړی جنگ کی ددواړو خواو سربیره په زرهاوو بی وزلی خلك ووژل شول خو دمحترم مولوی جلال الدین حقانی دخیر غوښتنی دهڅو په نتیجه کی اوربند وشو ، وروسته داوربند څخه سرغړاوی وشو او دواړو خواو یو ځل بیا دیوه بل مقابل کی گولی وچلولی بیاهم دننگرهار

دشورا اوځينو نورو مصلحو قوتونو دهڅو په نتيجه کی اوربند وشو اوترننه مات ګوډ دوام لری په دی جګړه کی هم دمجاهدينو دبدناميدو او ضعيفيدو پرته موږ ته څه په لاس رانغلل ، اخر ملت خو زموږ څه غواړی دا اوهنيمی مياشتی وشوي ديوه مشر او قوی حکومت دجوړيدو خبره خو پر ځای پريږده چی ديوه مشر او قوی مرکزی حکومت دجوړيدو په لاره نه يومتفق شوی ځينو دوه پښتی په يوه موزه کی کړی چی مشرتابه بايد د لوی جرګی له لاری انتخاب شی او ځنی ددی برعکس نعری وهی اصلی خبره داده چی دا ډنډوری او ځانځانی حرکتونه زموږ مشرانو عادت ګرځيدلی اوملت هم تردی وروسته له دوی ددی پرته څه تمه او انتظار نلری ، په دی برخه کی ټولو ته دامید يواځنی مرجع داتحاد علماء افغانستان ، دپيژندل شويو قوماندانانو او مصلحو قوتونو هڅی او حرکت دی چی په لار اچول شوی ځکه د دری ژبی معقوله ده چی «ازموده را ازمودن خطا است » دا ديارلس کاله دا رهبران وازمويل شول په پرله پسی او مکرره توګه دملت ، حالاتو او اسلام غوښتنه د يوه صف جوړيدل و خودوی دهغه پر ځای ديوه بل مقابل کی جبهه ګيری غوره کوله بلاخره يی خبره دی ته راورسوله چی ملت سرنوشت يی ديوه عظيم خطرسره مخامخ کړ هغه هم دهغه ملت سرنوشت چی دروسيی په څير امپراتوری او مارکسيزم نظريه يی دتاريخ دپاڼو جزوګرځوله اوس دټول ملت تمه د علماو ، پيژندل شووقوماندانانو مخورو او مصلحو قوتونو ته ده چی ياخو دفشار له لاری رهبران دی ته مجبور کړی چی له خپلو منځويو مشر وټاکی او يادی علماووته داکار وسپاری چی په دی برخه کی مشرانو سره دعلماو داتحاد پيژندل شويو قوماندانانو او مخورو ليدنی وړانديزونه دمثبتونتايجو راوړونکی حرکت دی که بيا خدای (ج) مکړه په دی برخه کی مشرانو څه اقدام نه کاوه دهغوی په مقابل دی علماء له هغی لاری کار واخلی چی شريعت يی جواز بولی تر څو ملت د علماو په لارښوونه خپل مسير انتخاب کړی ، دشهيدانو دوينو پرثمری لوبی کوونکی وپيژنی ، ځکه همدا علماء دی چی تل يی دمشکلاتو په وخت کی ملت رهبری کړی ، هغوی ته يی لارښوونی کړی او دتللو مسير يی ورته ټاکلی .

د برې لار

د محترم مولوي محمد يونس « خالص » ليکنه

محترمو مجاهدو ورونو !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاة

له دى كبله چى دافغانستان مسلمان ملت تقريباً څوارلس كاله پول پول زحمتونه وگالل بى شماره شهيدان يى وركړل بى شماره خلك يى گوډ مات شول بى شماره كونډى يتيمان راپاته شول دهجرت غربتونه او دربدرى موتيرى كړى داټول ددى دپاره چى په افغانستان كى كفرى نظام ختم كړو او يو واقعى اسلامى نظام راولو ځكه اسلامى نظام واقعاً دانسان دازادى، مساوات او عدالت يواځينى نظام دى داسلام څخه پرته ټول نظامونه بنده دبنده بنده گى ته مجبوروى او دانسان انسانى كرامت له منځه وړى لوى خداى(ج) فرمايى :

(ان الدين عندالله الاسلام) هو!

يواځى اسلامى دين دى چى دافغانستان مختلف نسلونه او دمختلفو ژبو خاوندان سره يو ملت گرځولى شى ، لوى خداى پدى اسلامى جهاد كى كامياب كړو ، روس الله تعالى دړى وړى كړو او ملحد رژيم په سياسى ميدان كى شكست وخوړ ، خو متأسفانه چى اوضاع داسى خړه پړه شوه او داسى توره تياره راغله چى نه يواځى داچى زمونږ مجاهد مسلمان ورونه يى حيران كړيدى بلكه له يوى خوا داسلامى حكومت او جهاد نيك نوم ته صدمه ورسيده اوله بلى خوا دملحد رژيم بقايا ددى پر ځاى چى دخپلو تيرو جرايمو څخه توبه گارشى او داسلامى حقيقى نظام لپاره هلى ځلى وكړى نن سبايى پيل كړى چى خپل دښمنانه ارمان ترسره كړى او دپاكو مجاهدو په وينو باندى دافغانستان ځمكه يو ځل بيا تكه سره كړى ، اوس چى دمحترم ربانى صاحب دمشرتيا دوره په ختميدو ده امكان لرى چى

دمجاهدینو ترمنځ دانسی شیطانانو په تحریك داسی ګډوډی رامنځته شی چی داسلامی حکومت خلاف ځینی مؤثر خلك دبین المللی اداری مداخلی ته لاره پیداکړی او دجهاد اصلی مقصد موله لاسه وباسی ځکه مو

تاسو ته تکلیف درکړ تر څو له یوی خوا سره په سلامشوره ځپل مسیر داسلامی مقرراتو سره سم وټاکو اوله بلی خوا ددی توری تیاری څخه دنجات لاره ومومو مونږ تاندوواهه تر څو لوی خدای موفق کړو تولی هغه طرحی چی دبی طرفه حکومت ، مخلوط حکومت او دنورو په لاس جوړ شوی حکومت لپاره داستعماری قدرتوله خوا مطرح شوی وی دخاورو سره خاوری شوی او دیواسلامی حکومت چی دمجاهدینو په لاس جوړ شوی وُ غږ موپورته کړ او رسماً وربانددی اعتراف وشو ، خو په ډیر تأ سف باید ووایم چی زموږ ځینو مشرانو وروڼو داسی لاره ونیوله چی نه خو ورته اسلام اجازه ورکوله او نه یی دوی ته د مجاهدو مشرانو لخوا اجازه ورکړ شوی وه ، مثلاً محترم مجددی صاحب بی له دی څخه چی دخپلو وروڼو سره سلامشوره وکړی اسلامی مقرارت مطالعه کړی هغه خلك تر خوانیول او دپخوانی تسلط چی کفری طاقت ورکړی تائید یی وکړ چی دمسلمانانو وینی یی تویی کړی وی او افغانستان یی دخاورو سره خاوری کړی دی خو بیا هم دوه میاشتی تیری شوی او محترم استاد ربانی رامنځته شو چی دوی هم داسی کارونه وکړل چی مجددی یی له خلکو هیر کړ، محترم حکمتیار صاحب هم پخپل سرنه یواځی داچی همدغه شانی خلك یی تراخوا ونیول چی ربانی او مجددی ترخوا نیولی وو ، بلکه په یوه بله پلمه یی دمسلمانانو تر منځ اور بل کړ ، اودی ته یی زمینه مساعده کړه چی د ایران حکومت په لمسون دشیعه او سنی تر منځ شخړی پیل شی ، دلته دخواشینی خبره داده چی داد شیعه او سنی تر منځ شخړه یی چی اساساً دایرانی حکومت سیاسی پروګرامونه پلی کوی دحزب وحدت او اسلامی اتحاد تنظیمو تر منځ په شخړو تعبیر کړل او ددی پر ځای چی اهل تشیع وپوهولای شی او یا تهدید کړای شی استاد ربانی اهل تشیع ته موقع ورکړه او دادایران مزدورانو ته یی مهم پوستونه په

مثلاً محترم مجددی صاحب بی له دی څخه چی دخپلو وروڼو سره سلامشوره وکړی اسلامی مقرارت مطالعه کړی هغه خلك تر خوانیول اودپخوانی تسلط چی کفری طاقت ورکړی وُ تائید یی وکړ چی دمسلمانانو وینی یی تویی کړی وی او افغانستان یی دخاورو سره خاوری کړی دی خو بیاهم دوه میاشتی تیری شوی او محترم ربانی صاحب رامنځ ته شو چی دوی هم داسی کارونه وکړل چی مجددی یی له خلکو هیر کړ، خو محترم حکمتیار صاحب هم پخپل سرنه یواځی داچی همدغه شانی خلك یی ترخوا نیول چی ربانی او مجددی تراخوا نیولی وه ، بلکه په یوه بله پلمه یی دمسلمانانو تر منځ اوربل کړ، او دی ته یی زمینه مساعده کړه چی دایرانی حکومت په لمسون دشیعه او سنی ترمنځ شخړی پیل شی

لاس ورکړل او دی ته یې جوړ کړل چې دغه جګړه دوام پیدا کړي او امنیت درهم او برهم شي ، اوس اوس چې کومې طرحې رواني دي باور لرم چې یوه یې هم نه اسلامي ده او نه ددې وړده چې یو صحیح اسلامي حکومت به جوړ کړي ، ځکه نودې ویره راپیدا شویده چې دامظلوم ملت یو ځل بیا د دربدرۍ سره مخامخ شي او دادچوکې مینان ددې پر ځای چې قدرت ته ورسیږي خپل ځانونه هم دنورو مشکلاتو سره مخامخ کړي او دامظلوم ملت هم داستعماري قدرتونو له خوا لوبولو ته ورجوړ کړي ، دموجوده حکومت بلنه چې متحده ملتونوته یې ورکړیده زما ددې ادعا مثبت دلیل دی .

مونږ پدې فکر وو چې اسلامي رهبري به دهرڅه نه مخکې دپخواني غیر قانوني حکومتونو ټول قراردادونه ملغی اعلان کړي دملحد و حکومتونو له خوا داسلام په خلاف چې کوم اسناد ترتیب شوي باطل وګرځوي دمهاجرینو دراتللو لپاره کم تر کمه دلاري سهولتونه به برابر کړي دکونډو یتیمانو معیوبینو مکمل لستونه واخلي او دهغوی داینده ژوند لپاره به څه چاره وکړي داسلام په خلاف خلك چې چیرته قدرت په لاس کې لرې له قدرته لرې کړې شي او پر ځای به یې واقعي مسلمانان او مجاهد وروڼه وټاکل شي او دفحاشي بازارونه چې ملحدانو تاوده کړي وه له منځه به لرې شي او دلوی خدای بندګانو به دلوی خدای په دین برابر رهبري شي خو له بده مرغه ددې امیدونو معکوس کارونه وشول او له همدې کبله امنیت مختل شو ددین دښمنانو ته داستفادې کولو موقع په لاس ورغله اوس ددې لپاره چې یوصحیح او سالم حکومت راشي دوه شیان زما په نظر ضروري دي .

اول داچې داسلامي حکومت تشکیل جوړ شي او اعلان شي چې اینده حکومت به یې التزام کوي اودمخالفت په صورت کې به یې ملت مخالفت کوي ددغه شاني حکومت موظفین باید واقعي مسلمانان وي ځکه ډیر کرته یو مؤظف دخپل رسوخ نه کار اخلي او داسلامي اصولو په ضد عملونه پیل کوي .

دوهم داچې نن سبا ډیر تکلیف دموجوده احزابو څخه راپیدا شوي دي او تر څو پورې چې مسلح تنظیمونه موجود وي دامنیت راوستل څه اسانه کارنه دی ، زما په نظر باید جیدعلما چې تر اوسه یې داسلام په خلاف دکوم تنظیم یا ملحد رژیم لپاره فتوی نه وي ورکړي ، متدین مجاهد قوماندانان چې د نورو مجاهدینو مقابل کې یې توره نه وي راپورته کړې او هم په کوم خلاف اسلام جرم نه وي متهم شوي او هغه اسلام دوسته مشران او سپین ږیري چې ولسونه یې سره نه وي جنګولي تقریباً ټول دیو زر نفرو په شاوخوا کې دمختلفو ولایتونو څخه سره راټول شي او داسې خلك چې واقعاً دحنفي مذهب سره موافق اسلامي دولت عیار ولاې شي داهلیت او کفایت خاوندان وي په ګوته کړي او ټول جهادي تنظیمونه یې ملاتړ وکړي بې دکوم قید او شرط څخه ورته خپله سلاح وسپاري او ترهغې یې اطاعت وکړي چې داسلام څخه یې انحراف نه وي کړی ، دغه شورئ باید دیوه داسي حکومت تر خوا ولاړه وي او دانحرافاتو مخه یې ونیسي او په عین حال کې دنورو دبغاوت مخنیوی هم وکړي مونږ داخبره اعلانوو که دغه شاني اهل خلك دعلماء، قوماندانانو او نیکو

موتږ پدی فکرو چی اسلامی رهبری به دهرڅه نه مخکی دپخوانی غیر قانونی حکومتونو ټول قراردادونه ملغی اعلان کړی دملحدو حکومتونو له خوا داسلام په خلاف چی کوم اسنادترتیب شوی باطل وګرځوی دمهاجرینو دراتلو لپاره کم ترکمه دلاری سهولتونه به برابرکړی دکونډو یتیمانو،معیوبینو مکمل لستونه واخلی او دهغوی دایندہ ژوند لپاره به څه چاره وکړی داسلام په خلاف خلك چی چیرته قدرت په لاس کی لری له قدرته لری کړی شی او پرځای به یی واقعی مسلمانان او مجاهد ورونه وټاکل شی او دفحاشی بازارونه چی ملحدانو تاوده کړی وه له منځه به لری شی اودلوی خدای بنده ګان به دلویٔ خدای په دین برابر رهبری شی خوله بده مرغه ددی امیدونو معکوس کارونه وشول او له همدی کبله امنیت مختل شو،ددین دښمنانو ته داستفادی کولو موقع په لاس ورغله او س ددی لپاره چی یو صحیح او سالم حکومت راشی دوه شیان ګما په نظر ضروری دی

سپین ږیرو له خوا دحکومت په حیث اعلان شی دهمدغه شانی شوری په وسیله به خپلو جبهاتو ته هدایت ورکړو چی یواځی اسلحه نه بلکه مجاهدین هم اسلامی دولت ته وسپاری که بیا غواړو چی خپل تنظیم ته ادامه ورکړو نو په اسلامی فکر او تقوی به سره انسجام ولرو او که مولیدل چی حکومت پخپلو اسلامی تعهداتو ولاړ دی داتنظیم به په حکومت کی منحل کیږی ، فرضاً که چیری دفاسدی لاری څخه یو فاسد حکومت داسلام په نوم رامنځته شو نو بیا زموږ وظیفه

دانده چی فوراً ورسره جنګ پیل کړو او دمسلمانانو تر منځ یو تر بله دښمنۍ اوورونه بل کړو ځکه داکار دخیر څخه شر او دګټی څخه تاوان ډیر لری که یو مسلمان امیر چی بیعت ورسره‌وشی څه شرعی عملی انحراف ولری خو عقیدٔیی داسلام پر ضد نه وی معلومه شوی اوپه اصطلاح بواح کفرته یی ملانه وی ترلی دهغه دناجایزو او امرو تحمیل ندی جائز او ناروا عمل ته یی په کرکه کتل پکار دی مدحه یی جواز نه لری خوپدی شرط چی مسلمان پاته وی مقابلی ته یی توره اخستل

هم ندی روا شوی اول نه اول باید احتیاط وشی او داسی حکومت باندی اعتماد وشی چی دایمانداری او تقوی څخه یی ډاډه واوسو خو کله چی دیوی تهولنی امنیت داسلامی رهبر تر سیوری لاندی تامین شی بیا دامنیت اختلال ته اجازه نشته همدا وجه ده چی دظاهرشاهی هغه حکومت په مقابل کی علما وو دجهاد اعلان ونه کړ چی له یوی خوایی په اسلامی شوری کی سك هم کښینولی و او بلی خوایی شرعی حجاب له منځه وړی ؤ او په عسکری نظام کی یی دپیغمبری سنت په ضد داسی عمل کولو چی په سکانو به زیری نه خریل کیدی او علما به یی په ږیره خریلو مجبور ول ، البته دازمونږ وظیفه ده چی دټولنی داصلاح لپاره منظم تربیوی او تبلیغی نظامونه ولرو او اصلاحات په محیط کی تر ممکنه حده پوری راولو ، زه باور لرم دافغانستان اکثره خلك په اسلام مین دی او داسی حکومت ته به تن نه ورکوی چی دحیا او ناموس دښمن وی خپل رعیت په نورو پلوری او داسلامی پوهی پرځای کفری پوهی ته خدمت وکړی

، خو خبره دلته ده چې کارونه مو باید په ډیر سنجش بناء وی خپله خپل ځانونه ډیر اصلاح کړو او دخپلو جهادی ورونو سره بی دکومی حزبی تفرقی څخه اسلامی چار چلند وکړو او دحق دجاری کولو لپاره یولاس شو دنیا ته په عقبا باندی ترجیح ورنه کړو نو هم به دلته کامیاب شو او هم به مو داخرت ښیګنه ګټلی وی. والسلام

دمحترم خالص قطعنامه

اسلامي حکومت مکلفيت لري چي :

۱ – ټول قوانين به يې له اسلامي اصولو سرچينه اخلي .

۲ –دملحدانو او بې دينه خلکو سره ګډنه وي او هغو خلکوته يکي ځاي ورنه کړي چي داسلام ضد وي او يايي داسلام پر ضد قيام کړي وي

۳ –دنجونو په موجوده بې پردګي به پابندي لګوي او دټولو هغو مواردو مخه به نيسي چي دنامحرمه ښځي او سړي تر منځ دتماس امکانات پيدا کوي .

٤ – دمجاهدو ډلو پوره پوره بررسي وکړي حقيقي مجاهدينو ته دقدرپه سترګه ګوري او بې دتنظيمي احساس څخه په ټولو مجاهدينو ورونو يو شاني اعتماد وکړي او ددفاع دوزارت کارونه همدوی ته وسپاري .

٥ –پخواني منصبداران چي له ملحدينو سره يې همکاري نده کړي خو دهيواد په ساتنه کي يې پوره نقش ندي لوبولي ددي پر ځاي چي امريتونه ترلاسه کړي بايد پدي شرط چي له اسلاميت څخه يې مطمئن وي په عسکري نظام کي دمشاور او استاد په حيث کار وکړي نه دعسکري قطعاتو دامرينو په صفت .

٦ –ټول هغه ناجائز محصولو نه چي د ملت په مختلفو عناصر و جريان لري لغوه شي .

۷ –دملحدو رژيمونو ټول قراردادونه لغوه اعلان شي او صرف هغه قراردادونه داعتبار وړوګرځوي چي اسلامي حکومت يې دملت دواقعي نماينده ګانو په سلامشوره سرته ورسوي او اسلاماً کومه خلاونه لري

۸ – دجهادي کارنامو دامتياز په نظر کي نيولو سره ديتيمانو ،کونډو ،معيوبينو او شهيدانو پوره لست ترلاسه کړي او چاري ته يې متوجه شي .

۹ – په پوره بيړه دمسافرو مهاجرو دېرځاي کيدو او دلته يې دژوند تيرولو ممکنه وسايلو ته دتهيه کولو خواته توجه وکړي .

۱۰ – ددينې عالمانو يوه شوري وټاکي چي هره فيصله يې دهغوي دشرعي تائيد څخه وروسته عملي شي .

۱۱ –ګټي وټي او نشرات او تعليمي چاري يې ګردسره په شرعي معيارونو برابري وچلوي .

۱۲ –حزبي مخالفتونه دحکومت قوت له منځه وړي ځکه نو بايد موجوده احزاب لغوه اعلان کړي .

۱۳ – داهل الحل والعقد په نوم چي دشوري لپاره کومه طرحه فعلاً جوړه شوي په اسلامي اصولو برابره نده په هغه صورت کي چي پدي طرحه کومه شوري جوړه شي دفيصلو په منلويي اسلاماً مکلف نه يو بلکه که فيصلي يې ګټوري او دشريعت په خلاف نه وي منلي به شي او که نه ردولي به شي .

١٤ –حنفي فقه دافغانستان رسمي مذهب وبولي او داسلامي احکامولپاره په هره ناحيه کي هلي ځلي پيل کړي .

مونږ دغه شاني حکومت ملاتړ کولاي شو او ملت ته هم دهغه دملاتړ توصيه کوو

داسلامي حزب مشر مولوي محمد يونس «خالص» ۱۳۷۱/۷/۲٦

الحاج مولوي جلال الدين «حقاني» :

موږ کوښښ کوو چې دسازش حکومت نه وی بلکې له اهل خلکو نه شورا جوړه او دهغوی له منځه یو سم حکومت جوړ او کارونه اهل ته وسپارل شي

یادښت : محترم مولوي جلال الدین «حقاني» دمنبع الجهاد ، او د بي ، بي ، سي دپښتو او دري خپرونو له خبریالانو سره په ځانګړو مرکو کي دافغانستان دروانو حالاتو ، دعلماوو اتحاد دفعالیتونو دسولي دتحکیم په لاره کي دقوماندانانو د هڅو ، داهل حل والعقد شورا دجوړیدو او دیوه سوچه اسلامي حکومت دتحکیم په اړه په زړه پوري بحث کړي ، دادي دري واړه مرکي په جلا ، جلا او پرله پسي توګه سره لولو «اداره»

پوښتنه – هیله ده په کابل کي دخپلو مصروفیتونو او فعالیتونو په رابطه دمنبع الجهادمجلي لوستونکو ته معلومات ورکړي ؟

ځواب:

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلي علي رسوله الکریم امابعد:

حقیقت دادي چې تر اوسه دخلکو په رضایت باندي په شرعي طریقه حکومت ندي جوړ شوي دا داسي کړنل کیږي لکه چي حکومت موجود نه وي او خلا دقدرت وي ،چون افغانستان بالکل ړنګ ؤ او دزندګي اسباب له منځه تللي ؤ ، بیا دغه ړنګ افغانستان ته دمهاجرینو راګرځیدل پداسي حال کي چي خلك هم ټول مسلح دي او ځوارلس کاله خلکو په استقلال باندي هر قوماندان دیوه حکومت په شکل کارکړي نو امنیت بالکل خراب دي ددي لپاره یو مستقر او مسلط حکومت

اګر در وظیفه رسمی باشم یانه از خدمت به مردم ووطن دست بر نخواهم داشت تا اینکه یک حکومت مستقر واسلامی بمیان اید و کمونستها خلع قدرت شود

ما مخکي هم داخبره کړې چي کومي بدبختي راغلي او جګړې شوي او رواني دي دا په حقیقت کي دټولت او حکمتیار جنګ ندي داد جمیعت او حزب جنګ دی دامخکي هم ددوي تر منځ جنګونه شویدي تر څو چي داتفرقه دتنظیمونو موجوده وي مرکزي حکومت نشي جوړیدی که دعلماوو او قوماندانانو دغي غونډي ته انکشاف ورکړل شي او وسیع شي باید تنظیمونه محوه شي تنظیمي مقررې باید لغوه شي د یوواحد مسلمان ملت لپاره واحد قیادت وګرځول شي او تر دغه قیادت لانـــــدي مـــــقـــــرري وشـــــي

ضروردي ، او دوطن دتعمیر لپاره هم قوي حکومت ضروردي دمهاجرو لپاره، دتعلیم او تربیي لپاره ددغو ټولو لپاره یو مستقر او مرکزي حکومت ضرور دي متأسفانه چي په شپږو میاشتو کي دا جوړ نشو .

ددي علت دادي چي داحزابو تعدد او تفرقه او دحزبوتر منځ جګړې او دعدم اعتماد بدبختي موجود ده او سره لدي چي بناړونه دکمونستانو د کي ،جي ،بي او خاد له عاملینو نه ړک دي نو دمجاهدینو په منځ کي دجنګ صحني ډیرترډبرابروي.

.په ابتدأ کي له کمونستانو نه دحکومت تسلیم کیدل په ساله طریقه ونشول بلکي شکل دائتلاف یي غوره کړي وُ ، په سترو سترو پوستونو کي کمونستان برحال پاتي شول ، او یوځ کي ددوي مسلح پاتي کیدل که څه هم ددي ظاهري کوم سبب نه معلومیده خو دا تر څمکه لاندي یو ائتلاف وُ ، بله داچي حکومت له متعددو حزبونه جوړیدل او دسابقه اختلافاتو موجودیت او څرنګه چي هیواد ړنګ او دمهاجرینو دستنیدو او ځای په ځای کیدلو او بیا ابادي په لار کي دکمکونو قطع

کیدل دنړیوالو لپاره دامنیت او اطمینان دنه موجودیت ویره او پلمه جوړه کړي وه ، څکه خو موږ دلته پدي کوښښ کي یوچي حزبي تفرقي ختمي شي یو واحد قیادت او صف له افغان مجاهدینو څخه جوړشي او حزبي جګړې ختمي شي دکمونستانو ائتلاف ختم شي له ملکي او عسکري ادارو نه وایستل شي دپخواني ملحد رژیم قطعات منحل شي او دا قطعات له مجاهدینو نه جوړ شي .

په تیروشپږو میاشتو کي حکومت په درسته طریقه کار ندي کړي تر څوپه مرکز او ولایاتوکي سالمي اداري جوړې کړې که کوم کار یي پدي برخه کړي هم دي هغه یي دسازش له لاري کړي نا اهله کسان یي مسؤلین ټاکلي دي او هغوي بیا ټول نااهله کسان مقرر کړي دي ، حاکمانو یو ډیره غلطه طریقه غوره کړي او هغه داچي دپلویانو دپیدا کولو لپاره یي دسازش له لاري له بیت المال څخه ناجایزه استفاده کړې او تشنج یي په منطقه کي پیدا کړي موږ کوښښ کوو چي دسازش حکومت نه وي او له اهل خلکو نه شورا جوړه شي او دهغوي له منځه یو سم حکومت جوړشي او اهل ته کار وسپارلي شي داسي چي په سازش او رشوت بنانه وي.موږ به پدي لړ کي دحکومت داسلامي او عملي بر نامو په تطبیقولو کي هم همکاري کوو .

که سازش ونه شي او دا خلك داهلیت په بنا راوغوښتل شي او دعلماوو ، جهادي قوماندانانو او قومي مخورو چي دجهاد په څوارلس کا له کي سره موافق پاتي شوې لدغو دریوقشرونو نمایندګان راوغوښتل شي پدي کي به همکاري کوو او که په سازش سره داکار وکړي او په پیسو او نژاد او سمتیت او حزبیت داکار بنا کړي نو بیا دعلماوو قوماندانانو او مشرانو تصمیم دادي چي په اینده کيدسازش حکومت

مخه ونیسي .
موږ غواړو که په اوسنیو حالاتو کي حکومت دشورا لپاره کومه برنامه ایښي که دادسازش په طریقه او تحزب او نژاد باندي روانه کړي دی ته باید خاتمه ورکړو او په هغه طریقه چي دشریعت طریقه ده اهل حل او عقد چي دري قشره خلك دي یعني مجاهد علماء جهادي قوماندانان او متدین مشران ددوي په اتفاق او اکثریت یو حکومت جوړ شي پدي کار موږ لگیا یو او تر ډیره الحمدلله کامیاب شوي یو .

پوښتنه :په پکتیا کي دملکي او پوځي چارو اداره او وضیعت څنګه ګڼي ؟

ځواب : تر اوسه په پکتیا کي یو ثابت حکومت او اداره نده جوړه شوي ځکه تر اوسه مرکزي حکومت متفق علیه ندي مخکي هم موږ دي ته اشاره وکړه چي والیان په سازش او رشوت درول شوي حتي دهمدي سازش په بنا ولسوالي ولایت شوي او ځینو ته یو ولایت دوه شوي دي دا ټولي په سازش باندي شوي دي په پکتیا کي هم داسي شوي ، ولایت یي هم تقسیم کړي والي هم بي مشوري درولي ، فرقه مشران یي هم په سازش تعین کړي-ملکي او عسکري اداري تر اوسه نشته موږ کوښښ کوو چي دشورا غونډه دي له علماوو قوماندانانو او سپین ږیرو له اهل خلکو نه جوړه شي بیاپدي غور وکړي چي یو ولایت ښه دي که دوه. بیا څوك معقول دي چي هغه ته دچارو واکي وسپارل شي .

په پکتیا کي دڅلور فرقو قول اردو ضرور ده چي هغه تقریباً یو دخوست یوه دګردیز یوه دارګون او یوه سرحدي فرقه چي له دري لوانه مرکبه وي بیا دي وکتل شي چي نظامي چاري چاته مناسب دي او ملکي چاته .

موږ مخکي هم شورا غوښتي وه چون درباني صاحب وخت ختمیده او خلا دقدرت راتله ددي لپاره چي تشنج او ګډوډي اوجګړه پیښه نشي موږ دپکتیا کار ونشواي کړاي اوس کار روان دي چي ډیر ژر دپکتیا اداره جوړه شي .

پوښتنه : تاسي دحکومت او محترم حکمتیار له خوا دسولي لپاره دشویو تعهداتو په رابطه څومره مطمئن یاست ؟

ځواب: تر اوسه ددي ملاقاتونو اومصالحي په هکله باید ووایم چي تر ډیره دسولي دهیئت په شروطو اوتعهداتو حکومت وفا او عمل ندي کړي د جانب مقابل په هکله هم ویل کیږي چي هغه هم خپل قوتونه پوره ندي په شا کړي .تر اوسه دمصالحي دبقا پوره اطمینان نه ښکاري ځکه په مصالحه کي مهم رکن چي هغه جنګ ته خاتمه ورکړي هغه درژیم دبقایا وو منحل کول او ایستل دي هغه نه منحل شوي او نه وتلي ځکه خو منشأ دجنګ باقي ده .ځکه خو دجنګ خطر لاپوره ندي رفع شوي

له حکمتیار صاحب سره علماوو او قوماندانانو وکتل چي جنګ دشورا لپاره مانع ګرځي اودښمن دبقالپاره هم منشأ او پلمه ګرځي باید جنګ تاخیر شي کیدي شي دخبرو له لاري نه داکار ترسره شي او که حکومت په خپل وخت کي په وعده باندي عمل نه وي کړي موږ امید لرو چي حکومت خپلي وعدي وپالي درژیم بقایا وي ختمي کړي له ادارونه یي وشړي ،دپوځ قطعات منحل کړي . دزاړه رژیم قطعات ته په هر رنګ هرنوم چي وي په پوځ کي ځاي ورنکړي شي لکه په نورو ولایاتو لکه پکتیا ننګرهار غزني وردګو لوګر اونورو کي چي داکارشویدي

۱۳۷۱/۸/۱ دبي بي سي پښتو څانګه

پوښتنه : له حکمتیار سره ستاسو ملاقات څه نتایج لري دلاري دخلاصیدو په باره کي موافقي ته ورسیدي که څنګه ؟

ځواب :اوس چي دعلماوو او قوماندانانو شورا په ګډه کار کوي پرون علماء او قوماندانان يو ځاي حكمتيار صاحب ته ورغلو له هغه سره مو په دريو موضوعاتو خبري وكړي .

١- څرنګه چي دلاري بندول دافغانستان عامه مسلمانانو ته تكليف رسوي په تيره سړكال چي غذايي مواد هم نشته دوا درمل هم نشته برق او لرګي هم نه شته تيل نشته نو كه لاري هم بندي شي خلك به له هلاكت سره مخامخ شي نور هرڅه مشكلات چي له حكومت سره وي كه هغه دمليشي وي او يا دلته چي كوم مواد راځي كه په هغه كي څه /شتيا وي چي عادلانه نه تقسيم كيږي ياپوځي استفاده تري كيږي پدي برخه كي به اقدام وشي ددي چاره به دلاري په بندولو نه كوو بلكي له بلي طريقي به ددي مشكل علاج وكړو .

٢- كوم هيئت چي حكمتيار صاحب دنګران په توګه دمصالحي له هيئت سره منلي وُ څرنګه چي حكومت ډيره بي قولي كړي نو دحكمتيار صاحب نګران هيئت مايوس شوي وُ او دوي هم ويلي چي هيئت نه درليږم موږ ورته وويل چي هغوي ته بايد پلمه په لاس ورنكړي شي .

حكمتيارصاحب موافقه وكړه چي يابه هيئت ورليږم يابه قوماندانانو او علماوو ته دا واك وركړم.

٣- دريمه خبره داوربند وه پدي كي حكومت خپلي وعدي نه وي تر سره كړي ځكه خو حكمتيار صاحب ويل چي اوس زما اور بند نشته ځكه حكومت پخپله وعده كي پاتي راغي او اوس دمصالحي هيئت په ده اعتراض نشي راتلي موږ ورته وويل چي حكومت اوس حاضر دي چي مليشه وباسي ته بايد جنګ ونكړي .

ده ته دي خداي خير وركړي دري شرطه يي ومنل خو دشمال له طرفه له هغي وروسته چي دمليشي دنه راتلو اطمينان راكړي شي دا لاربه هم خلاصه شي موږ ورته وويل چي هلته به هم يو حايل قوت واچووچي اسلحه او مليشه رانشي

پوښتنه :دملي وحدت دټينګښت لپاره مو چي دقوماندانانو شورا راغوښتي په كومو اړخونو توافق راغلي دي ؟

ځواب : اوس مسأله يوه ده دعلماوو دقوماندانانواومخورو شوراګانو هدف يودي اوهغه داچي جنګ ختم شي او سوله ټينګه شي .

موږ له علماوو اوولايتي شوراګانو داغوښتني له هغو نه چي د سياست مسابقه نلري چي ورته كانديد شي' دخاص تنظيم او ليډر لپاره كار نه كوي يواځي دملت لپاره سوله او امنيت غواړي داسلامي نظام برقرارول غواړي اوددي كار رفع كول غواړي داټول يوځاي شوي اوپه ډيرو مسايلو كي توافق ته رسيدلي او لږ او ډير تفاهم ته له مشرانو سره اوس رسيدلي دي .څه علماوواوقوماندانان چي پاتي دي دځينو ولاياتو هغه به هم راورسيږي كومه نقشه د حل اوعقد چي دحكومت لپاره تاكل شوي او يو فورمول يي جوړ كړي ددي په سم تطبيق او نظارت كي به هم دوي همكاري كوي او كه په هغه طريقه اوشرطونو شورا نشواي كاميابيدي دابه دافغانستان له نورو اهل الراي چي پاتي دي له قوماندانانو علماوو اومخورو هغه چي مستحق دي پدي كي ډير لوي رول لوبولي شي .

پوښتنه : كه دحل اوعقد شورا بن بست ته ورسيږي او موفق نشي چي شورا جوړه شي تاسي اينده وضعه څنګه ګڼي ؟

ځواب.: موږ دي ته متوجه يو چي هرج مرج رانشي خلا دقدرت رانشي دادعلماوو او قوماندانانو غوښته به تر هغه چي ددي فارمول مطابق اهل حل اوعقد جوړيږي ددوي غوښتي به رواني دي ددوي خپل قدرت او صلاحيت استعمالوي چي دملت

په رضا نماينده اسلامي حکومت جوړ شي .

پوښتنه : څرنګه قوي مرکزي حکومت جوړشي چې له ارضي تماميت نه دفاع وکړي ؟

ځواب : ما مخکې هم داخبره کړې چې کومې بدبختې راغلې او جګړې شوې او رواني دي داپه حقيقت کې ددولت او حکمتيار جنګ ندي داد جميعت اوحزب اسلامي جنګ دي دامخکې هم ددوي تر منځ جنګونه شويدي ترڅو چې داتفرقه دتنظيمونو موجوده وي مرکزي حکومت نشي جوړ يدي دعلماوو او قومانداناتو دغې غونډې ته بايد انکشاف ورکړل شي او وسيع شي بايد تنظيمونه محوه شي تنظيمي مقررې بايد لغوه شي يوواحد مسلمان ملت لپاره واحد قيادت وکرځول شي او تر دغه قيادت لاندې مقررې وشي .

پوښتنه : که بيا هم تنظيمي بڼه ادامه ولري ايا ددې باعث نه کرځي چې مجاهدين خپل سياسي تشخص چې تر لاسه کړي وُله لاسه ور کړي ؟

ځواب: زه خودافغانستان مسلمان ملت ته دعوت کوم چې لفظي مناقشات لکه دلوي جرګې او حل اوعقد او قيادي شورا تر عنوان لاندې لفظي جګړې شاته کړي

پدې سره ملت تفرقې ته رابلل کيږي هغه چې په بل تنقيد او دګان تبريه کوي په تنظيمي لحاظ مقررې او امنيت غوارې داخپله ستره بدبختي ده .

دافغانستان ملت بايد لدې بدبختي نه ځان وباسي بايد تريوه عنوان او بيرغ لاندې په افغانستان کې ژوند وکړو دافغانانو لپاره دغربيانو طريقې دچليدو وړندې اسلامي مملکت او ملت دې اسلامي طريقه پته نده اهل الري اهل فکر او اهل حل والعقد يو دې زموږ وحدت په څه کې راځي چې دا بدبختي رفع شي زه بيا هم داتقاضاکوم چې تنظيمي اختلافات او سمتي او نژادي تفرقې بايد له منځه يووړل شي .

زه خودافغانستان مسلمان ملت دې ته دعوت کوم چې لفظي مناقشات لکه دلوي جرګې او حل اوعقد او قيادي شورا تر عنوان لاندې لفظي جګړې شاته کړي
پدې سره ملت تفرقې ته رابلل کيږي چې په بل تنقيد کوي دګان تبريه کوي ځوک په تنظيمي لحاظ مقررې او امنيت غواړي داخپله ستره بدبختي ده .
دافغانستان ملت بايد لدې بدبختي نه ځان وباسي بايد تريوه عنوان او بيرغ لاندې په افغانستان کې ژوند وکړو.دافغانانو لپاره دغربيانو طريقې دچليدو وړندې اسلامي مملکت او ملت دې اسلامي طريقه پته نده اهل الري اهل فکر او اهل حل والعقد يو دې زموږ وحدت په څه کې راځي چې دا بدبختي رفع شي زه بيا هم داتقاضاکوم چې تنظيمي اختلافات او سمتي نژادي تفرقې بايد له منځه يووړل شي .

پوښتنه : که دا مسله حل نشي نو مسؤليت يې دچا په غاړه دې ؟

ځواب: اوس ډير افغانان پدې کې مبتلا شوي پدې کې ټول راځي زه هم په يوه تنظيم کې راغلي يم او په يوه سمت او نژاد کې راغلي يم ُتر هغې چې دغه عيب ورک نشي دسولې او امنيت تمنا دې نه کوي ددې شرط دادې چې لدې سمتي لفظي او تنظيمي تفرقې نه ځانونه وباسو

دادټولو مسوليت دې بايد ددې مانع او مرض رفع شي .

بي بي سي دري څانګه

سوال :مولوي صاحب شما روز قبل با اغاي حکمتيار

صحبتي داشتيد درين صحبت به چه توافق رسيديد ؟

جواب: ازاقاي حكمتيار خواهش كردم كه مسدودنمودن راه بسيار تكليف آور است – ملت مظلوم ما ازناحيه مواد سوخت ومواد غذايي دچار تكليف است راه لوگر پكتيا ، جلال اباد وراه شمالي بايدجمعاً خلاص شود اگر راه مسدود شود مردم به هلاكت مواجه خواهد شد .

حكمتيار صاحب وعده نمود كه راه را باز خواهم كرد صرف يك خواهش كرد كه موادغذايي وسوخت بايد عادلانه تقسيم شود درگدام حكومت ودر راه نظامي مصرف نشود ما وعده نموديم كه كوشش مي كنم كه يك هيئت بي طرف تعين شود تحت نگراني اين هيئت مواد سوخت وغذايي تقسيم شود .

سوال : شما نقش اساسي وبرجسته درجهاد داشتيددراوايل بحيث وزير عدليه مقرر شديد بعداً وظيفه را ترك گفتيد اميد است درين باره توضيحاتي ارائه فرمايد؟

جواب : ما از حكومت در ابتدا بسيار مطالبه كردم بعداً بابسيا ري از قوماندان هاءعلما ومشران از حكومت مطالبه كرديم كه متأسفانه حكومت تا حال به مطالبات ما جواب مثبت نگفته از همينرو براي خو د مناسب نه دانستم كه در حكومتيكه تاحال شكل ائتلافي دارد، مليشه وبقاياي رژيم سابق فعال مي باشد بازهم در وظيفه باشم .

بجاي اينكه ما امن بياوريم وبراي مردم خدمت نمايم نمي توانستم تهديد جنگ وبي امنيتي رارفع نمايم فلهذا خوشايند نبود كه باز هم در حكومت باشم ومردم افغانستان باز هم درمصيبت توپ وبم مبتلا باشد.

درين صورت كه بقاياي رژيم ومليشه در حكومت موجودباشد موجوديت بنده طرف معلوم خواهد شد ازهمين سبب بود كه راه ديگري خدمت براي مردم خود را جستجوي نمودم .

ما از حكومت در ابتدا بسيار مطالبه كردم بعداً بابسياري از قوماندان هاءعلما ومشران از حكومت مطالبه كرديم كه متأسفانه حكومت تا حال به مطالبات ما جواب مثبت نگفته از همينرو براي خو د مناسب نه دانستم كه در حكومتيكه تاحال شكل ائتلافي دارد مليشه وبقاياي رژيم سابق فعال مي باشد بازهم در وظيفه باشم .

بجاي اينكه ما امن بياوريم وبراي مردم خدمت نمايم نمي توانستم تهديد جنگ وبي امنيتي رارفع نمايم فلهذا خوشايند نبود كه باز هم در حكومت باشم ومردم افغانستان باز هم درمصيبت توپ وبم مبتلا باشد.

درين صورت كه بقاياي رژيم ومليشه در حكومت موجودباشد موجوديت بنده طرف معلوم خواهد شد ازهمين سبب بود كه راه ديگري خدمت براي مردم خود را جستجوي نمودم .

سوال :اگر در دولت اين عناصرباقي بماندوازوظايف كنارنرو د موقف شماچه خواهد بود؟

جواب : ما فكر ميكنم اگر حكومت بي تفاوت نمي ماند وشكل ائتلاف را ختم كند صبغه اسلامي وملي راكسب كند اگر در وظيفه رسمي هم نباشم از كاروخدمت به مردم ووطن دست برنميگرم تا اينكه حكومت مستقر بميان بيايد وكمونستها خلع قدرت شود ما فعلاً مصروف همچو كارهاميباشيم

دشرعي امير دتاکني او دسولې او امنيت دټينګښت په لارکې

داتحادعلماء-جهادي قوماندانانو او مخورو دغونډو ،فعاليتونو او پريکړو رپوټ

ننګيال

دشرعي اصولو په رڼاکې دامير تاکل اوداسلامي احکامو په تطبيق باندي دټاکل شوي امير تعهد هغه بنسټيزه غوښتني دي چې دعلماوو اتحاد دجهادي قوماندانانو اومخورو په ملیتا په هیواد کې داسلامي نظام دتطبيق او ټينګښت اوهمدارنګه دسولې،امينت او سوکالي په خاطر واکمنو ته وړاندي کړي دي او دغه سپيڅلي هدف ته درسيدو لپاره په کابل کې دعلماوو اتحاد ، جهادي قوماندانانو اومخورو ګڼ او هر اړخيز فعاليتونه په لار اچولي دي .

موږ غواړو په دغه ليکنه کې دعلماوو اتحاد او جهادي قوماندانانو دغونډو -فعاليتونو اولاسته راوړنو په اړه دخپلو ليدنو او ياداشتونو له مخې يو خبري رپوټ ترتيب او دهيواد دروانو تاوجنو حالاتو او جرياناتو په رابطه ددغه اغيزمنو هلو ځلو لنډيز خپلو مظلومو هيواد والو ته وړاندي کړو .

دعلماوو اتحاد کابل ته دمجاهدينو له داخليدو راپديخوا دشرعي امير دټاکلو او دسولې او امنيت دټينګښت او دوام لپاره په فعاليت بوخت دی له دغه اتحاد سره دهيواد دبيلابيلو برخو جهادي قوماندانان او مخور هم ملګري دي اوپه ګډه سره يې دپوره تفاهم او صميميت په فضاکي دهيواد په روانو حالاتو ،ربړو او ستونزو دبحث او دحل د لارو چارو په لټولو کې خپل فعاليتونه او هلې ځلې متمرکزي کړي دي .

لدې مخکي دعلماوو اتحاد ددوو متفق عليه پشنهاد ونو په ترڅ کې د لارښودی شورا په عنوان هغو نيمګړتياوو ، ستونزو او ربړو ته ګوته نيولي وه چې په کابل کې موجوده حکومت ورسره مخامخ و-او دهغو په له منځه وړلو کې يې دخوښياشتو په ټيريدو بيا هم کوم اقدام ندي کړی .

په دغو دواړو پشنهادونو کې چې دهغې بشپړ متن دهمدغه ليکني داسناد و په برخه کې خپريږي

دشرعي امير دنه تماکني او نه موجوديت خلاته دلارښودي شورا توجه جلب شوي او داسلامي احکامو دبشپړ نفاذ په برخه کي دواکمنو غفلت او همدارنګه په دولتي اداروکي دپخواني رژيم دپاتي شونو موجوديت ته پام اړول شوي او داسلامي اصولو په رڼا کي دشرعي امير دتماکني اوداسلامي احکامو دبشپړ تطبيق په برخه کي دنوموړي اميرد تعهد پر ضرورت خبري شوي وي ځرنګه چي دلارښودي شورا او واکمنو له خوا دعلماوو اتحاد دغوبوو وړانديزونو ته کوم مثبت او دمنلو وړ ځواب ورنکړي شو ځکه خو دعلماوو اتحاد داموضوع دجهادي قوماندانانو او مخوروسره دوروستي پريکړي لپاره شريکه کړه - په دي رابطه دروان کال دعقرب مياشتي په ۱۷ مه نيټه دعلماوو اتحاد-جهادي قوماندانانو او مخوروګډه غونډه جوړه شوه .

دعلماوو اتحاد مشر محترم ذاکري صاحب په خپلو افتتاحيه خبرو کي په لنډه توګه وويل :

موږ دوي عريضي لړو چي دلته تاسي ته لوستل کيږي ددي په رابطه به بحث او خبري کوو که دا باراو مسؤليت مو پر اوږو اخيستي

> تر اوسه چي لدغه حکومت څخه شپږ مياشتي تيري شوي - نه يي امنيت تأمين کړي نه يي په بشپړه توګه شرعي احکام تطبيق کړي او نه يي له دولتي ادارو او پوځي قطعاتو کمونستان او دملت مجرمين ايستلي دي .
> دا شپږ مياشتي چي موږ په دغه دردوونکي حالت کي وخت تير کړي او صبر مو کړي دامو په ګناه کي تير کړي .

شواي شو بيا به دزړه له اخلاصه پخپل ټول توان او قدرت دغه کارته اوږه ورکوو او که نه بيا به نور وخت په تکراري خبرو نه سره تيروو.

لدي وروسته دمحترم مولانا قيام الدين کشاف له خوا هغه دوه پشنهادونه غونډي ته ولوستل شول چي دلارښودي شورا په عنوان ليکل شوي او استول شوي ؤ. او لکه مخکي مو چي ورته اشاره وکړه موږ دهغو بشپړ متن داسنادو په برخه کي خپروو .

له دغه دواړو پشنهادونو سره دغونډي برخوالو په بشپړه توګه خپل توافق ځرګند او دهغي په تعميل کي يي دهر ډول هلو ځلو او قرباني وعده وکړه .

محترم ذاکري صاحب وويل : ځرنګه چي شورويان دهمدغو قوماندانانو دهمت او قربانيو په برکت له ماتي سره مخامخ شول ځکه خو دافغانستان دازادي کارنامه هم ددوي افتخار بلل کيږي له همدي ځايه ده چي زه وايم چي داغوښتني چي شرعي غوښتني دي اودعلماوو غوښتني دي خوددي عملي کول دقوماندانانو کاردي - ددغه غوښتنو په عملي کولو کي به قوماندانان له خپل توان او طاقت څخه کار اخلي .

موږ دوي ته خپلي غوښتني وړاندي کړي دوي چي ددي دعملي کولولپاره څنګه لازم ګڼل موږ ورسره موافق يو او تائيد يي کوو - او س داموضوع قوماندانانو ته وړاندي کوو چي دوي پري خبري وکړي او يو جامع حل يي راوباسي. له دي وروسته محترم الحاج مولوي جلال - الدين «حقاني» پخپله وينا کي وويل

:هدف ته درسیدلو لپاره اتفاق یو مهم او اساسي شرط دي موږ باید داسلامي حکومت په جوړولو کي پخپل ټول توان او امکاناتو سره هلي ځلي وکړو . تر څو خپل ملت چي اوس له اسلامي امیر او سالمي اداري نه بي برخي دي او دژوند په شؤناتو کي یي داسلامي احکامو تطبیق تقریباً معطل دي چي داخپله دهلاکت او جاهلیت ژوند دي ، ځکه خو دا په موږ فرض دي چي لدغه هلاکت، جاهلیت او تشتت نه ځانونه او ملت وژغورو.

تر ټولو دمخه زموږ په منځ کي باید فاصلي ختمي شي او په ولایاتو کي باید بیلابیلي شوراگاني متحده شي ، حقاني صاحب پخپلو خبرو کي وویل : که څوک له موجوده رقتباره وضعي نه وتل او داسلامي حکومت او اداري جوړول او دشرعي امام درول فرض بولي نو داکار علما کولي شي هغوي چي دجهاد دفرضیت فتوي یي ورکړي ، جهادي قوماندانان یي کولاي شي هغوي چي اسلامي حکومت ته یي دجوړولو زمینه برابره کړي خو داهم باید په پام کي ونیسو چي دا کار باید په صبر، ثبات تدبیر او درایت سره شروع شي او دوام ورکړل شي .

دغه مشران چي دحکومت مسؤلین او یا هم ځانونه داسلامي حکومت مدعیان بولي که دوي دا ادعا کوي او په خوله وایي چي اداره جوړه کړي چي دمنکراتو مخنیوي وشي او حدود نافذ شي دمظلوم لاس نیوي وشي او دا قافله په حنفي مذهب روانه کړي شي له دوي نه ددي امید عبث دي – نور دوي ته انتظار گناه او هلاکت ته نژدي کیدل دي .

دحکومت دبنسټ او اساس خښتهٔ باید سمه کیښودل شي علماء قوماندانان او مخور باید ددغه مرض په علاج اوسمي لاري ته دواکمنو دسوقولو لپاره که چیري دفشار ضرورت وُ له فشار څخه کار واخلي که دغه کار په نصیحت کیده نصیحت ورته وشي .

موږ به شریعت ته گورو په کوم ځاي کي چي شریعت دتبلیغ او نصیحت اجازه او حق راکړي تبلیغ او نصیحت به کوو او په کوم ځاي کي یي چي دفشار او قوت داستعمال اجازه راکړي هلته به له هغو څخه کار اخلو .

حقاني صاحب زیاته کړه :

تر اوسه چي لدغه حکومت څخه شپږ میاشتي تیري شوي – نه یي امنیت تأمین کړي نه یي په بشپړه توگه شرعي احکام تطبیق کړي او نه یي له دولتي ادارو او پوځي قطعاتو کمونستان او دملت مجرمین ایستلي دي .

دا شپږ میاشتي چي موږ په دغه دردوونکي حالت کي وخت تیر کړي او صبر مو کړي دامو په گناه کي تیر کړي .

ورونو ! دپیغمبر (ص) دجنازي دفن کول دشرعي امیر دتعین تر وخته معطل شوي و ، پدي کار کي دالله تعالي له طرفه د دومره اهتمام امرشوي چي که څو تنه په لار سره روان وي او مشرنلري نودایي ډیره ستره گناه بللي اوس نوچي یو ملت امیر ونلري دهغه به څه حال وي ، یقیناً چي دادجاهلیت ژوند دي .

حقاني صاحب وویل : مشرانو ته چي موږ خپل پشنهادونه ورکړل هغوي پري هیڅ اجرآت ونکړل – زموږ ټینگ تصمیم دي چي په اسلامي طریقه د حکومت جوړولو لپاره کاروکړو – دادعلماوو داجتماع فیصله ده خو داهم باید ووایم چي لدي سره بي اعتنایي په گناه کي ځان پریښودل دي :

حقاني صاحب دخپلو خبرو په پاي کي وویل :

دامشترکه اجتماع باید رنگه نشي – لومړي به په حکمت ددغو منکراتو مخه نیسو که په حکمت ونشوه هلته بیا دجهاد امردي بیانو یوه لحظه هم فرصت له لاسه ورکول ندي روا. تر هغې به زموږدغه مبارزه او

تر هغې به زموږدغه مبارزه او جدوجهد روان وي چې شرعي امير وټاکل شي غټ غټ کمونستان له دولتي ادارو وشړل شي په هغو سيمو کې چې دپخواني رژيم دکمونستانو قدرت او تسلط موجود دي که څه هم تر هر عنوان او نامه لاندې وي هغه بايد له قدرت څخه وغورځول شي - شرعي حجاب مراعات شي سوله او امنيت برقرار شي

جدوجهد روان وي چې شرعي امير وټاکل شي غټ غټ کمونستان له دولتي ادارو وشړل شي په هغو سيمو کې چې دپخواني رژيم دکمونستانو قدرت او تسلط موجود دي که څه هم تر هر عنوان او نامه لاندې وي هغه بايد له قدرت څخه وغورځول شي - شرعي حجاب مراعات شي سوله او امنيت برقرار شي .

وماعلينا الا البلاغ .

نورو علماوو هم پخپل وارد روانو حالاتو په رابطه داسلامي احکامو په رڼاکې خبرې وکړې او خپل پشنهادونه او نظريات يې وړاندې کړل او دشرعي امير په ټاکنه - داسلامي احکامو او حدودو په تنفيذ دغه تعهد، له دولتي ادارو او قطعاتو دکمونستانو ايسته کول - دشرعي حجاب مراعات، دسولې او امنيت دټينګښت په رابطه يې دعلماوو اتحاد او دجهادي قوماندانانو او مخورو دغونډې له پريکړو سره خپل ملاتړ او پيوستون اعلان کړ .

دخبرو په پای کې محترم ذاکري صاحب دغونډې دنتايجو په رابطه وينا وکړه ويې ويل :

په غونډه کې چې کومې خبرې وشوې ټولې ښې خبرې وشوې - قوماندانانو چې څه وويل هم دخير لاره يې وښودله موږ ورته دعمل توفيق غواړو .

قدرمنو ورونو !

موږ داشپږ مياشتې کيږي چې حکومت ته وايو چې حکومت اسلامي کړې - مجددي صاحب ته مو هم داويل او رباني صاحب ته هم داوايو چې حکومت اسلامي کړې .

موږ رباني صاحب ته وويل چې حکومت اسلامي کړه موږ به ستا مخالف باغي اعلان کړو خو رباني صاحب وايي چې داسې فتوې ورکړه چې دحکومت مخالف باغي دي خو موږ ورته وويل چې ستا حکومت اسلامي ندې نه چابيعت درسره کړې ، نه دې په تغلب سره قدرت نيولی اونه يې چارې په بشپړه توګه په اسلامي اصولو رواني دي .

موږ ورته داهل حل و العقد دراغونډولو په رابطه پشنهاد وړاندې کړ خو دې غواړي هغه څوک راوغواړي چې دملت داراې يې پرې چورکړې اوپه رشوتونو کې يې ورکړې ده ګکه خو وايي چې زه له تاسې نه اهل حل والعقد ښه پيژنم .

عزتمندو ورونو ! حکومت موږ ته خط رالستولی چې د اکمالاتو لار حکمتيار بنده کړې تاسې ورته ووايې چې لار خلاصه کړې . دمجددي صاحب او رباني صاحب حکومتونو اکفر دکافرانو جنرالان اوواليان مقرر کړي او پداسې شکل يې يو مخلوط حکومت جوړ کړې چې په اسلام کې داسې اداره هيڅ جواز نلري .

مونږ حکمتیار صاحب ته هیئت ولیږه
چي لار خلاصه کړي خو هغوی یو
اوږد لیک رالیږلی او داسي څه یي
لیکلي چي زمونږ دغوښتني ځواب
نشي کیدي نن به څو تنه علماؤ او
قوماندانان بیا حکمتیار صاحب ته
ورځي او دلارو دخلاصولو غوښتنه
به تري کوي.

* * *

شایي وواېو چي دعقرب په لسمه
نیټه دمحترم حقاني صاحب په
مشري دعلماوو یو هیئت له استاد
رباني سره ملاقات وکړ څو دهغو
دوومکتوبونو په رابطه چي لارښودي
شورا ته یي لیږلي ځواب ترلاسه
کړي بله داچي که لارښوده شورا یو
ځاي نه غونډیږي دوي له هر مشر
سره جلاجلا خبري وکړي همدارنګه
حقاني صاحب د اتحاد علما هغه
نظر هم استاد رباني ته توضیح
کړچي دحکومت له خوا یي داهل
حل والعقد دکمسیون په رابطه
دحکومت په پریکړه دملاحظي نقطه
نظرڅرګنداوه حقاني صاحب
استادرباني ته وویل :
دولایاتو په اوضاع له حکومتي
واکمنو څخه داطراف علماء او
قوماندانان ښه پوهیږي – په کومه
طریقه چي کمسیون لایحه جوړه
کړي پدی طریقه دکامیابي صورت
زمونږ په نظر کي داسي معلومیږي
چي امکانات یي ډیر لږ دي – دا
داسي ترمیم او جوړیدي شي چي
لههیئت سره دهر ولایت یو یو
قوماندان او عالم ګډ شي او پدغه
لایحه کاروکړي ترڅو حقیقتاً اهل
حل والعقد انتخاب کړي شي ځکه
تنظیمونه او مشران مطلوبي نتیجي
ته نشي رسیدلي دا دتجربي له
مخي ثابته شویده د موجوده لایحي
له مخي ضرور جنجالونه او
کړکیچونه پیدا کیږي .
استاد رباني وویل : زه به له ورونو
سره خبري وکړم چي که امکان
ولري له هر ولایت نه یو یو قوماندان
او عالم له دوي سره همکاري وکړي
حقاني صاحب په ډاګه کړه چي :
علماء او قوماندانان نه غواړي چي
په هیئت کي طفیلي ولاړ شي – باید
ددوي ګډون رسمي بڼه ولري
اورسمي حق ورکړل شي –
استادرباني بیا هم وویل مونږ به
ورونو ته پشنهاد وکړو امید دي چي
عملي شي .
حقاني صاحب په پاي کي بیا
داخبره تکرار کړه چي دا دلایحي
او کار دکامیابي لپاره ضروري دي
ځکه په موجوده شکل دکار جریان
موفق او مطمئن نه معلومیږي.
خولکه چي څرګنده شوه پدغه
پشنهاد هم دواکمنو له خوا کوم
غور ونشو .

* * *

په پاي کي ذاکري صاحب دغونډي
دنتایجو په هکله په لنډیز سره
تکراراً وویل :
مونږ دوي غوښتني لرو
۱– په اسلامي طریقه داسلامي
امیر تاکل فرض دي په دي کي
تاخیرګناه ده او اسلامي امیر به
دحقوق الله او حقوق العبد دفاع او
ساتنه کوي
۲– داسلامي احکامو په بشپړه
تطبیق به تاکل شوي امیر تعهد
کوي .

* * *

څرنګه چي اتحاد علماء دحکومت له
هیڅ ډول مادي امکاناتو استفاده
نکوله حتي دلارښودي شورا له
مشرسره یي دملاقات په وخت
دچاي او میوي له خوړلو هم په کلکه
ډډه کوله او پدي رابطه یي دحکومت
ټولو پیشکشونو ته منفي ځواب
ورکړي ؤ ځکه خو دعقرب په (۱۵) مه
نیټه دافیصله وشوه چي هره ولایتي
شورا به د ډوډي دلګښت لپاره دوه
دوه لکه افغاني ټاکل شوي هیئت ته
ورکوي چي ورځني مصارف له

همدي راغونډه شوي بودجي څخه ولګول شي.

دغونډي په پای کي دننګرهار دسولي دکمسيون ويائند محترم انجنير محمود وويل :

ځرنګه چي دمليشو دايستلو په رابطه حکومت خپله وعده پوره نکړه او ديوي هفتي په ځاي دوي نيمي مياشتي تيري شوي ځکه خو دحکمتيار صاحب نمايندګان خوابدي شول -دي ويل چي نور موږ په.بيځايه وعدو ځانونه نه دوکه کوو اوخپل وخت نه ضايع کوو.

له همدي ځايه وه چي فيصله وشوه چي دمحترم ذاکري صاحب او محترم حقاني په ګډون دعلماوو او قوماندانانو څوتنه له حکمتيار صاحب سره په دغو موضوعاتو خبري وکړي هماغه ؤ چي دعقرب د(۱۸) نيټي له غرمي وروسته محترم ذاکري صاحب محترم حقاني صاحب دنورو علماوو او قوماندانانو سره يوځاي په چاراسياب کي له حکمتيار صاحب سره ملاقات وکړ، او هيله يي وکړه چي لار خلاصه کړي - او خپل نماينده ګان دسولي له هيئت سره دمليشو دايستلو دڅارني پروسي ته توظيف اوله جنګ څخه لاس واخلي.

حکمتيار صاحب وويل :

دسولي هيئت هره ورځ دلته راغلي او ويل يي چي مليشي نن وځي او سبا وځي ولي دايوه دوکه ده چي دسولي له هيئت سره کيږي زموږ پوره يقين دي چي حکومت مليشي نه وباسي اونه ددي کار توان لري ځکه ددفاع وزير دهمدي مطلب دپاره درشيد دوستم سره دري هفتي تيري کړي او کله چي راغي موږ هيڅ پوه نه شو چي څه يي وکړل موږ دسولي کمسيون ته وويل چي ستاسي وخت ختم شوي دي اوس که مليشي وځي دي کي به هم دوي يوسياسي مقصد لري زه تاسو ته وايم چي دوي دمليشو دايستلو اراده نه لري او غواړي چي ددي مليشو په وسيله اول حزب اسلامي وټکوي ،نور احزاب وټکوي چي هرات ، هلمند ، کاپيسا ، اونورو ولاياتو کي جنګونه يي ښه مثال دي اوس هم که تاسي باور لري چي مليشي وباسي نو زماله طرفه له تاسو علماو څخه هريوتن دانماينده-ګي کولي شي.

دلارو بنديدو په باره کي بايد ووايم چي موږ په اولس لاري ندي بندي کړي بلکي په مخلوط حکومت او کمونستانو مولاري بندي کړي ځکه موږ يقين لرو چي دا مواد پر کمونستانو ويشل کيږي او هغوي زموږ او نورو احزابو په مقابل کي تقويه کيږي موږ وايو چي دامواد دي ديوه هيئت له خوا دولس مستحقو کسانو ته ورکړشي.

تر اوسه چي کوم مواد ويشل شوي مستحقو ته ندي ورکړي شوي او زياتره په پوځي برخه کي لګول شوي او ذخيره شوي دي بانکونه چور شول دملت ملي شتمني تالاشوي داڅنګه اسلام دي دبانکونو ټولي پيسي ديوه تنظيم په قوماندانانو ويشل کيږي .دشمال دلاري مسوليت که تاسي په غاړه اخلي زه سبا دالار خلاصوم خو داپه ياد ولري چي دخلاصيدو سره سم به درشيد دوستم قواوي کابل ته راځي دشمال لاره به ترهغي بنده وي تر څو چي مليشي بي وسلي شوي نه وي.

اوس تاسي فيصله وکړي چي دا دولت اسلامي دي که اسلامي وي زه بيعت کوم او خپل ټول قوت دولت ته تسليموم او که اسلامي دولت نه وي راځي په ګډه يو اسلامي دولت جوړ کړو او په دي لار کي ټول خنډونه دمنځه يوسو.

ذاکري صاحب وويل :

دحکومت په راس کي مسلمانان قرار لري او اکثره يي دجهاد مشران دي نو په دي حساب

حکومت ته کفري حکومت نشوويلي خو داسلامي حکومت دپاره دوه طريقي دي يوه داچي يومسلمان په زور سره حکومت ونيسي او نور مسلمانان يي بيعت وکړي او يا داچي دملت ددينداروخلکو له خوا يو مسلمان انتخاب شي او په ملت کي اسلامي قوانين جاري کړي دا اوس چي کوم حکومت دي اوياپه راتلونکي کي داسي حکومت جوړيږي دي ته موږ نه اسلامي حکومت ويلي دي او نه به ورته ووايوپه دي موږ قناعت نه دي کړي علماء او قومندانان به هغه وخت بيعت کوي چي اسلامي قوانين جاري شي .

اوسني جنګ چي پر کابل باندي شوي اوياکيږي دانارواه دي موږ ددي جنګ منع غواړو ځکه په دي جنګ کي زياتره عوام وژل کيږي موږ داوايو چي په اسلامي حکومت کي دملحد رژيم بقاياوي هيڅ ځاي نه لري او دابه دمنځه وړل کيږي .

دلاري بنديز ناروا دي ځکه دخاص لپاره دعوامو ګټي دمنځه وړل روا نه دي ولي دشمال دلاري په باره کي موږ هم اطمينان نه لرو ، دي ته به قومندانان ځواب ووايي .

حکمتيارصاحب:

جنګ موږ نه دي پيل کړي بلکي زموږ په خلاف پيل شوي دي ديوي خوا زموږ په سنګرونو مسلسلو بريدونو او دبلي خوادشمال له خوا دهوا او ځمکي له لاري کابل ته دمليشو داخلولو موږ جنګ ته مجبور کړو چي په دي جنګ کي دمليشو څخه (۱۸۰۰) او ملکي خلکو څخه (۱٦۰) تنه وژل شوي دي ، موږ دمليشو په خلاف داجنګ داسي جايز ګڼو لکه څنګه مو چي داخوارلس کاله ورسره کړي دي ، کله چي مليشي ،شوري نظار او حزب وحدت دکابل څخه ووتل او دکابل امنيت دداخله وزارت په چوکاټ کي دکابل دمجاهدينو له خوا ونيول شو نو بيا به دحزب اسلامي قوتونه هم دکابل څخه په شاکيږي ، لاري دولسي خلکو پرمخ خلاصي دي او دمليشو دپاره بندي دي او بندي به وي ، داراسلام هغه وي چي هلته اسلام حاکم وي که څه هم دهغه وګړي مسلمانان نه وي او دارحرب هغه دي چي هلته اسلام حاکم نه وي که څه هم وګړي يي مسلمان هي په افغانستان کي رئيس جمهور او وزيران مسلمانان دي خو دوي قدرت نه لري اسلامي احکام نشي جاري کولي امن نه شي تأمينولي په دي خاطر موږ وايو چي دايو اسلامي حکومت نه دي ، زموږ جنګ ددولت سره نه دي بلکي دکمونستانو سره دي دعلماوو او قومندانانو څخه چي داخوارلس کاله يي جهاد کړي زما توقع ده چي دمليشو د ايستلو ، کمونستي عسکري قطعاتو د منحلولو او اهل الحل العقد شورا د جوړيدو لپاره دي عملي اقدام وکړي داکارپه جلسو او خبرونه کيږي .

مولوي جلال الدين حقاني وويل :

دلاري بنديدو په سبب زيات تکليف مسلمانانو ته رسيږي اوپه دي کار سره مجاهدين بدناميږي لاري بايد خلاصي وي.دشمال دلاري په برخه کي بايد ووايم چي هلته بايد دسولي دهيئت قواوي ځاي پرځاي شي ترڅو کابل ته دمليشو او پوځي وسايلو دننوتلو مخنيوي وکړي موږ دا څوارلس کاله جهاد دقدرت او چوکي دپاره نه دي کړي بلکي داسلامي حکومت دجوړولو او دکمونستانو دنابودي په خاطر موکړي دي کله چي داکار دخبرو په واسطه تر سره کيږي نو دخبرو لار غوره کول په کاردي او په کوم ځاي کي چي دجنګ ضرورت پيدا کيږي بايد دجنګ دلاري ترسره شي دغو علماوو چي نن دا فتوي وکړي چي

بشپړ

داحکومت اسلامي حکومت نه دي او بيعت کول ورسره روانه دي که ددي علماوو غوښتني ونه منل شي سبا دجنگ کولو فتوي هم صادروليي شي .

پدغه ملاقات کي توافق ترلاسه شو چي جنگ به نه پيل کيږي، لاري به پدي شرط خلاصي شي چي ديوه بيطرفه هيئت تر څارني لاندي دغه مواد په مستحقينو وويشل شي او دسولي له هيئت سره دمليشو په ايستلو کي دحکمتيار صاحب نمايندگان برخه واخلي .

دعقرب په (۱۵) مه نيته پريکړه وشوه چي له هر ولايت څخه لږ ترلږه اووه تنه قوماندانان غونډي ته معرفي شي او دريږو او حالاتو په رابطه به خپل نظريات اوپشنهادونه وړاندي کړي او دهمدغو نظرياتو او پشنهادونو په رڼا کي به وروستي پريکړه اعلانيږي .

په همدغه نيته دجمعي په ورځ داتحاد علماء اوجهادي قوماندانانو دغونډي داهدافو دتوضيح او تشريح لپاره فيصله وشوه چي ټول علماءاو قوماندانان د پلخشتي په جامع جومات کي دلمانځه په اداکولو کي برخه واخلي او هلته ددغه غونډي اهداف او مقاصد بيان او توضيح کړي الحاج مولوي جلال الدين حقاني په خپله ويناکي له حمد اوثنا وروسته پدي رابطه ووېل :

داسلام عزتمندووروڼو! دافغانستان خداي پرست او مجاهد علماء او قوماندانان چي په ګڼ تعداد دلته راغلي او راجمع شوي دي مونږ غواړو دوي دراتلو لپاره اصلي مقصد په لنډوتکو کي بيان کړو ددغه مقصد دتطبيقولو لپاره ستاسو مسلمانو ملاتړ پکار دي چي هغه مقصد دقران کريم ، محمدي شريعت اودحنفي فقي په چوکاټ کي کوم مطالب تاسو ته ويلي شي دهغوي په تطبيق کي ستاسو او نورو مسلمانانو همکاري ضروري ده او تاسي بايد داخبره نورومسلمانانو ته ورسوي .

عزتمندو !دپيغمبر (ص) دعا دقبول وړده او هغه مبارك دعا کړي چي يا الله (ج) هغه مسلمان په دنيا او اخرت کامياب کړه چي زما يوه خبره او حديث يي واوريده اوزده يي کړه او بيا يي داحديث لکه څنگه چي اوريدلي وي نورومسلمانانو ته ورسوي .

قدرمنوورونو !دعلماوو او قوماندانانو ددي لويي غونډي مقصد دافغانستان دمجاهد قهرمان اومظلوم ملت چي ټولي ځاني اومالي شتمني يي دخاورو سره برابري شوي دي بايد ددي ملت دژوند چاري دالله (ج) ددين او دمحمد (ص) په طريقو سمبالي شي ، تش په نوم اسلام يا اسلامي حکومت کافي نه دي ځکه دداسي حکومت خو دادي شپږ مياشتي تيري شوي مخکي دشپږو مياشتو څخه خو ملحد رژيم برقرار وو مشکلات زيات وو اوس دمسلمانانو دبي اتفاقي په سبب په اسلام عمل نه کيږي نو دعلماوو او قوماندانانو اصلي مقصد دادي چي د اسلام احکام په کور ، کلي ، ښار او ټول ملت کي په مکمله توگه جاري شي .

اوبل داچي حقيقي اسلامي حکومت جوړ شي او مسلمانان يي اطاعت وکړي ځکه داسي يو حکومت بيا اسلامي احکام جاري کولي شي .

حقاني صاحب زياته کړه !هغه کسان چي دکمونست گوند عضويت لري مسلمانانو ته يي اشرار ويلي مسلمانان يي شهيدان کړي تر څو چي په ښکاره توگه توبه ونه باسي او ددوي په توبه مسلمانان شاهدي ورنکړي ترهغي پوري د دوي سره نکاح نه کيږي که مړه شول جنازه يي نه کيږي او نه به دمسلمانانو په هديره کي دفن کيږي نو دعلماوو کرامو فيصله ده چي په عسکري او

مـلـكـي دولـتـي اداروكـي دي دكمونستانو قدرت ختم كړاي شي ټول هغه اسباب چې دمسلمانانو د لوبو او خويـنـدو دبې سـتـري او فحاشي سبب ګرځي دمنځه يووړل شـي او پـه سـوونـځـيـو كـي دي اسلامي سبونه او روزنه جاري شي ، اسلامي حدود دي جاري شي ، دجګړې پرځاي دي سوله او امن راشي او ټول مسايل دي دخبرو دلاري حل كړاي شي .

حقاني صاحب يو ځل بيا په لنډو ټكو كي دعلماوو او قوماندانانو دغونډي مقاصد او اهداف بيان كړل ويې ويل :

١- دافغانستان دمجاهد او قهرمان ملت دڅوند په ټولو اړخونو كي داسلامي مقرراتو نافذكيدل.

٢- يـو اسـلامـي مـقـتـدر حـكـومـت جوړول .

٣- دكمونستي نظام ټولي بقاياوي له منځه وړل .

٤- دبـې حـجـابـي ،فـحـاشـي اوفساد ټول ذرايع او وسايل ختمول

٥- داسلامي حدود تنفيذ .

٦- دجنګ بيخي ختمول او دسولي او امنيت ټينګول .

لمونځ كوونكو دتكبير په نارو او دلاسونو په پورته كولو داجتماع له پورتـينو اهدافو اومـقاصدو سره بشپړ ملاتړ اعلان كړ او دهرډول همكاري او قرباني وعده يي وكړه .

* * *

دري ورځي پرله پسې قوماندانانو پخپل نوبت دحالاتو په رابطه خپل نظريات اووړاندېزونه وړاندې كول او دمجلس منشي محترم مولوي سعيد الـرحـمـن دهـغـوي دنـظـريـاتـو اوپشنهادونو مهم ټكي ياداشتول .

دغونډې پر دريمه ورځ چې دعقرب مياشتي له (١٩) نيټي سره برابره ده احوال راورسيد چې مـحـتـرم مـولـوي نـصـر الـلـه مـنـصـور پـه چاراسـيـاب كـي دحزب اسلامي حكمتيار دمجاهدينو له خوا نيول شوي منصور صاحب چې دكابل حكومت له خوا دپكتيا دوالي په توګه اعلان شوي يوه ورځ مخكي له راديو نه دولايت تشكيل اعلان كړ - دالومړي ځل دي چې په يوه ولايت كي دسيمي دعلماوو قوماندانانو اومخوروله سلامشوري پرته والي اعلانيږي - پـه نـورو سيمـو كـي دولايـتـي شـوراګـانـو اوجـهـادي ځواكونو دتفاهم په نتيجه كي دولايتونو اداري دخلكو درضايت په اساس منځ ته راغلي خو په پكتيا دحـكـومـت لاسـوهـنـه دي حـدتـه رسيدلي چې يو ولايت يي دوه او بيا پخپل سره دخپلو سياسي مقاصدو لـه مخـي بيـلـه دي چې داهـليت او صلاحيت موازين په پام كي ونيسي داسي ټاكني اعلان كړي دي .

محترم منصور صاحب هم دحكومت له خوا په پكتيا كي دخپلي پايګاه دټينګولو په خاطر دزياتو مالي امكاناتو سره بيله دي چي داتحاد علماءغړي او قوماندانان له جريان نه خبر كړي دپكتيا په لور حركت كړي و .

دمحترم منصور صاحب دنيولو دخبر په رسيدو فيصله وشوه چې محترم ذاكري صاحب او محترم حقاني صاحب له يوشمير علماوو او قوماندانانو سره حكمتيار صاحب تـه ورشـي او دمـنـصـور صـاحـب دخلاصيدو په رابطه ورسره خبري وكړي كه څه هم حقاني صاحب ته ځينو ملګرو دامشوره نه وركوله چي پـداسـي كـړكـيـچـن او خـطـرنـاك وضيعت كي چاراسياب ته ولاړشي خو دوي كلك تصميم نيولي ؤ چي پدي هكله په لازم اومناسب اقدام لاس پوري كړي .

محترم حكمتيار صاحب دپنځه ساعتونو خبرو وروسته دي ته اماده شو چي ديوه هيئت له ټاكلو او پدي

رابطه دتحقیقاتو او پلټنې له تضمین وروسته منصور صاحب حقاني صاحب ته وسپاري .

لدې مخکې محترم مجددي صاحب دحکمتیار صاحب سره ملاقات کړی ؤ خو هغه په دې نه ؤ توانیدلی چې دمنصور صاحب دخلاصون توافق ترلاسه کړي .

دشپې په اتنیمو بجو منصور صاحب په چاراسیاب کې دحزب اسلامي له یو قرارګاه نه محترم ذاکري صاحب او محترم حقاني صاحب راویوست او حقاني صاحب له خپل ځان سره پلچرخي کې خپل مرکز ته راوست .

پدې رابطه له محترم حکمتیار صاحب سره لیکل شوي پانه کې راغلي دي :

دعقرب په (۱۹) نیټه کله چې محترم منصور صاحب ګردیز ته روان و ددوي مخه دهغو شهیدانو دوارثانو له خوانیول شوې وه چې څو ورځې مخکې په ګردیز کې دمنصور صاحب دړلي له خوا په شهادت رسیدلي و ، دحزب مجاهدینو له منصور صاحب څخه هیله وکړه چې تر هغه وخته چې دشهیدانو وارثان دلاري په خوشي کولو راضي کیږي دوي دحزب په قرارګاه کې تم شي متاسفانه چې ددوي ساتونکو دحزب په مجاهدینو ډزې وکړې چې دهغې په نتیجه کې څو تنه مجاهدین شهیدان شول اوس دشهیدانو وارثان دتحقیقاتو غوښتنه کوي چې مجرمینو ته باید شرعي جزا ورکړل شي .

له همدې ځایه ده چې دقضیې دتحقیق لپاره دعلماو یو هیئت وټاکل شو تر څو پدې رابطه تحقیق اوپلټنه وکړي او هر څوک چې ملامت وي له هغوي سره دشرعي اصولو له مخې چلند کیږي .

دهیئت غړي لاندې علماء دي .

محترم مولوي نظام الدین حقاني

۲– محترم مولوي عبدالرحیم اخندزاده

۳– محترم مولوي محمد میر

پدې سند محترم ذاکري صاحب او محترم حقاني صاحب دتضمین کوونکو او شاهدانو په توګه لاسلیکونه وکړل .

په دې توګه منصور صاحب د حزب دمجاهدینو له بند څخه ازاد کړی شو.

حکومتي راډیو پدې رابطه اعلان وکړ چې منصور صاحب د څلور لکو ډالرو معادل افغاني هم له ځان سره نقل کولي .

سبا دمحترم عبدالرحیم اخندزاده او مولوي محمد شرین شجاعت په مشري یو هیئت بیا حکمتیار صاحت ته ولیږل شو چې له منصور صاحب سره نیول شوي نور کسان هم خوشي کړي خو پدې هکله دحکمتیار صاحب له خوا د رد ځواب ورکړي شوي ؤ .

څکه خو محترم حقاني صاحب یو ځل بیا چاراسیاب ته دمحترم حکمتیار صاحب دلیدو په غرض هلته تشریف یوړاو دمنصور صاحب ټول ملګري یې له ځان سره پلچرخي ته راوستل او پر سبا یې په څو موټرو کې دمحترم منصور صاحب استوګن ځاي ته ورسول .

له دغه لنډ توقف وروسته داتحاد علماء او جهادي قوماندانانو غونډې بیرته پیل شوي – له دوو ورځو بحث اودبرخوالو دنظریاتو او وړاندیزونو له توحید وروسته د رایو په بشپړ اتفاق یوه پریکړه لیك منظور او لاسلیك کړي شو چې دهغې بشپړ متن موږ دلته خپروو.. دغه پریکړه په څرګنده توګه دعلماوو، جهادي قوماندانانو او مخورو دغونډې داهدافو ،غوښتنو او موقف څرګندونه کوي چې یونقل یې لاربنودي شورا او دهغې مشر محترم رباني صاحب ته هم استول شوي دي .

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحاد علماي افغانستان

تاريخ: ١٣٧١/٧/٢٥

الحمد لاهله والصلوة علي اهلها!

دافغانستان داسلامي دولت قيادي شوري حضورته السلام عليكم ورحمة الله وبركاة

امابعد:

دلوي خداي (ج) په فضل او دجهادي تنظيمونو تر قوماندي لاندي ددي هيواد دمسلمانانو دجهاد او ډرندو قربانيو په برکت داشپږ مياشتي وشوي چي دتير کمونستي ملحد رژيم پر ځاي په افغانستان کي داسلامي دولت اعلان شوي دي او مجاهدين کابل ته داخل شوي دي خو متأسفانه چي تر اوسه پوري په هيڅ يوه برخه کي داسلامي نظام په لوري کوم داسي څرګند قدم ندي پورته کړي شوي چي ملت ته دمثال او نموني په توګه وړاندي کړاي شي بلکه دلته يو داسي نظام چليږي چي نه داسلام له سياسي اصولو سره اړخ لګوي او نه په غير اسلامي نړي کي مثال لري . بي امني ، مطلق العناني او خودسري خپل اوج ته رسيدلي ده بلکه له بده بدتره لا داچي تر دااوسه پوري قدرت په ځينو مهمو چارو کي دهغو عناصرو په لاس کي دي چي علماؤ دا څوارلس کاله دهغو په مقابل کي دجهاد دفرضيت فتواوي ورکړي او ملت ورسره جنګيدلي دي .

دغو حالاتو خلك له مايوسي سره مخامخ کړي دي او نژدي ده چي دجهاد ثمره مو تالا شي او په داسي فتنو کي راګيرشو چي ټولي کاميابي به مو په ناکامي او لازياتي بين المللي رسوايي بدله شي .

موږ اتحاد علماءافغانستان او جهادي قوماندانان دقيادي شوري څخه پوښتنه کوو چي ددغو مشکلاتو دحل ، دشرعي مسؤليت د اداکولو او دافغانستان دمسلمان ملت او اسلامي نړي داميدونو دپوره کيدو لپاره داسلامي اصولو مطابق کومه ساله لاره لري او که نه ؟

تر کومه ځايه چي موږ خبر يو هغه لاره او تدبير چي تاسي سنجولي دي ددي پرځاي چي مشکلات ورباندي حل شي لازيات مشکلات او مصيبتونه رامنځ ته کوي داځکه چي تاسي دنفوسو په تناسب

شورئ ته نماینده ګانو راوستل غواړي په داسي حال کي چي دنفوسوزیاته برخه هغه کسان تشکیلوي چي شرعاً په اسلامي شوري کي دغړي توب حق نلري نوپه دغه صورت کي داهل العقد والحل شوري څنګه ورته ویلای شي .

په دغه برخه کي زموږ غوښتنه داده چي په افغانستان کي دکامل اسلامي نظام دقایمولو لپاره په ډیره عاجله توګه داهل العقد والحل شوري په جوړولو په انتصابي ډول په داسي شان اقدام وشي چي نه پکي قومي او منطقوي فتني او شخړي راولاړي شي او نه پکي نژادي او تنظیمي لانجي رامنځ ته شي او یوه داسي شورئ جوړه شي چي یو سوچه اسلامي حکومت بنسټ کیږدي ، دداسي یو حکومت چي دسراومال او ناموس ساتنه او حفاظت وکړي، دفسادونو مخه ونیسي ، دکتاب الله او سنت او حنفي مذهب دغوښتنو سره سم مجرمان په سزا ورسوي او د ژوند په اقتصادي ، فرهنګي او سیاسي ټولو اړخونو کي دالله (ج) نظام نافذ او تطبیق کړي .

ددغو چارو په ترسره کولو کي که داتحاد علماء افغانستان او جهادي قوماندادنانو همکاري ته ضرورت وي نو موږ په پوره صمیمیت همکاري ته حاضر یو او که نه تاسي دامسولیتونه سرته ورسوي او نه له علماوو او قومانداناانو څخه دمرستي غوښتنه وکړي نو دروانو مفاسدو او غیر اسلامي وضعي په نتیجه کي که دافغانستان دجهادثمر لوټیږي او دد ي مجاهد ملت دسلامتیا کشتي دغرقیدو له خطر سره مخامخ کیږي په هغه صورت کي به علماء ، مجاهدین او دافغانستان ټول مسلمان ملّت بي تفاوته پاتي نشي «ومن الله التوفیق »


ولړ شو
مستقل
والسلام
ستاسو کشر ورور
قاري عبد العزيز ولايت قندهار
حاجي

دسولي دټينګښت په رابطه دعلماوو داتحاد پريکړه ليك

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحاد علمای افغانستان

تاريخ:۱۳۷۱/۷/۲٦

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام علي رسوله الكريم وعلي اله وصحبه اجمعين اما بعد :

اتحاد علما ء افغانستان او جهادي مهمو قوماندانانو د۱۳۷۱ هـ ش دميزان په ۲٦ مه نيته په كامل اتفاق سره فيصله وكړه چي متخاصمي ډلي لكه حزب اسلامي افغانستان،او جميعت اسلامي افغانستان ، همدارنګه اتحاد اسلامي افغانستان اوحزب وحدت (اهل تشيع) او نور دې خپلي شخړي دفيصلي له پاره لكه چي دالله (ج) فرمان دي (فا ن تناز عتم في شي ء فردوه الي الله والرسول ان كنتم تؤ منون بالله واليوم الاخر.......فلا ور بك لايؤمنون حتي يحكموك فيماشجربينهم ثم لا يجدو ا في انفسهم حرجاً مما قضيت ويسلموا تسليما) دالله (ج) كتاب او درسول الله صلي الله عليه وسلم سنت ته محول كړي ، او علماء به دكتاب او سنت سره سم فيصله كوي ، له دغه تاريخ نه وروسته به هيڅ يو لوري پر خپل متخاصم لوري باندي حمله نه كوي او كه له دي فيصلي نه سرغړوي نو هغه په واقع كي متمر داومسؤل بلل كيږي بلكي زموږ دجهاد په دي حساسه مرحله كي غواړي دجهاد ثمره ضايع كړي البته دمصلح هيئت معلومات او نظريات هم راغونډتل كيږي او دموضوع دتحقيق له پاره به داتحاد علماء افغانستان تر كلكي څارني لاندي نيول كيږي .

قاری عبد العزیز ولایت قندهار

شاه احمد
قندهار ولسوالی دامان

الحاج ملا حبیب الله هلمندی

دقيادي شورا په عنوان دعلماوو داتحاد غوښتني او وړانديزونه

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحاد علماي افغانستان

الحمدلله والصلوة والسلام علي اهلها اما بعد : تاريخ:۱۳۷۱/۸/۸

دقيادي شوړا محترم مقام ته السلام عليكم ورحمة الله وبركاة !

دافغانستان ټول مسلمان ملت داسلام په حكم په تيرو څوارلسو كالو كي وسله وال جهاد وكړ او ددي لپاره چي په افغانستان كي دكفري او الحادي رژيم پر ځاي دالله (ج) سپيڅلي نظام قائم شي دسر او مال بي شميره قرباني يي وزغملي چي لله الحمدله شپږو مياشتو را په دي خوا داسلامي حكومت اعلان شوي او مجاهدين كابل ته داخل شوي دي خو متأسفانه چي لاتر اوسه پوري دشريعت له اصولو سره سم اسلامي امير ندي ټاكل شوي او زمونږ مجاهد ملت بي له بيعت نه ژوند كوي .

په همدي اساس دافغانستان علماء ، جهادي قوماندانان او ديندارو قومي مشران له رهبري شورئ څخه دلاندي درو مطالبو په كلكه غوښتنه كوي :

۱– تاسي له خپل منځ څخه يعني له اوورهبرانو څخه يوتن دشرعي مواصفاتو سره سم ددولت درئيس په حيث وټاكي تر څو هم په خپله تاسو او هم دافغانستان نور مسلمانان ورسره شرعي بيعت وكړي او دشرعي امير په حيث پاتي شي .

۲–كه له تاسي نه هر يو ستاسو په توافق دامير په حيث وټاكل شي هغه به داتعهد كوي چي داسلام مبارك دين به په بشپړ او كامله توگه دحنفي مذهب په رڼا كي نافذ او عملي كوي .

۳– څنگه چي داهل العقد والحل شوري راوستل له هغه طرحي سره سم چي دكمسيون له خوا برابره شوي دروانو شرائطو په نظر كي نيولو له مخي غير عملي او دفساد او فتني موجب گرځي نو كه تاسي له خپل منځ څخه ديو تن په وړاندي كولو توافق ته نشي رسيدي نو ددي كار اختيار دعلماء او قوماندانانو او متدينوقومي مشرانو غونډي ته وسپاري ځكه چي ددي كار تأخير هيڅ جواز نه لري .



بسم الله الرحمن الرحیم

اتحاد علماي افغانستان

۱۳۷۱/۸/۱۳

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علي رسوله الکریم واله وصحبه اجمعین امابعد:

اتحاد علماء افغانستان ، جهادي مهمو قوماندانانو ، دیندارە قومي مشرانو دانشمندانو او اهل خبره وو ، د۱۳۷۱هـ ش کال دعقرب په «۱۳» مه نیټه دافغانستان دروانو حالاتو په متعلق او دمشکلاتو دحل کولو لپاره په کامل اتفاق سره په لاندني ډول تصویب او فیصله وکړه :

۱- ټول تصامیم ، تصاویب اوفیصلي به دقرانکریم ، نبوي سنت او حنفي مذهب په رڼا کي کیږي .

۲- دوخت دزیات اهمیت له کبله به مشران ، مهم قوماندانان ، دانشمندان او اهل خبره پخپله په جلساتو کي اشتراك کوي په نمایندگانو باندي به اکتفا نکوي .

۳- هر یو مشر ، مهم قوماندان او نور مربوط اشخاص که خداي (ج) دي نکړي په خپلو وظایفو کي بي اعتنایي وکړي او په یوه او بله بهانه جلساتو ته حاضر نشي مسؤل گڼل کیږي .

۴- دامجلس تر هغه پوري ادامه لري تر څو چي پورتني دري مادي عملي شوي نوي او نوراسلامي اهداف سرته نوي رسیدلي .

ومن الله التوفیق



بسم الله الرحمن الرحيم

اتحادعلماي افغانستان

الحمد لله والصلوة والسلام علي رسول الله خير خلق الله تاريخ:۱۳۷۱/۸/۲۱

وعلي اله وصحبه من بهديه اهتدي وسنة اقتدي امابعد

دافغانستان مسلمان ملت دڅوارلسو کالو په روان جهاد کي په اسلامي يو مهم عبادت بوخت ؤ او دمتعال خداي (ج) پدي امتحان کي الحمد لله بريالي شول اوس دي قهرمان او مجاهد ملت ته دخداوند جلت عظمته له خوا ديويل حکم خطاب متوجه دي چي هغه په اسلامي قيادت ،خلافت او امارت ددي خلا ډکول دي پوره شپږ مياشتي شويدي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت اعلان شويدي ولي تر اوسه پوري شرعي امير ، امام او خليفه ندي ټاکل شوي نو ځکه الهي احکام معطل دي اسلامي انقلاب بدنام او دمسلمانانو ټول اميدونه په مايوسي بدليږي ددي ټولو جناياتو مسؤليت پدي اسلامي ټولنه اودوي درهبرانو په غاړه ده ددي واجب دترسره کولو په خاطر داتحاد علماء افغانستان غړو او دجهاد اتلو قوماندانانو په تيرو شپږو مياشتو په دور کي دري ځلي په کابل کي سره راټول شول او دجهادي تنظيمونو مشرانو ته يي خپلي مطالبي وړاندي کړي ولي متأسفانه تر اوسه هغه څه چي غواړو لا تر اوسه ندي منل شوي او ل ځل يي شپاړس شپي ورځي پدي مجالسو بوخت وو دوهم ځل پنځه ديرش شپي ورځي په پورتني پشنهادونو مصروف وو . دريم ځل چي اوسني مجالس دي ددي واجب دترسره کولو لپاره دايوه مياشت کيږي چي بوخت يو.پدي مرحله کي علماؤ ، قوماندانانو او دينداره قومي مشرانو څو ، څوکرته په اجتماعي او په انفرادي توګه دافغانستان جهادي مشرانو سره وليدل او خپلي مطالبي ورته وړاندي کړي تر اوسه هيچا مثبت ځواب نه دي ورکړي لدي امله چي الهي فرمان او اسلامي سپيڅلي شريعت غوښتنه داده چي مسلمانان بايد متحد او ديوه اسلامي بيرغ او يو اسلامي قيادت لاندي ژوند ته دوام ورکړي فلهذا موږ به تر هغه پوري چي مطلوب نه وي تر سره شوي خپل اسلامي دعوت څخه انشاً الله لاس نه اخلو زموږ اخري فيصله دروان کال دعقرب په ۲۱مه نيټه په لاندي ډول صادره شوه.

۱- غیر اسلامي لویه جرګه چي مؤمن او کافر ، صالح او فاسق ، ښځه او نر پکښي برابر برخه لرونکي وي او دعامو خلکو له خوا تعین شوي وي شرعي بنټه نه لري په اتفاق مردوده او دمنلو وړنه ده
۲- قیادي شوري چي دیوهیئت په اجتماعي توګه دټولني رهبري کول دي که څه هم غړيئ عادلان ، صالحان او دشرعي خلیفه او صاف لرونکي اشخاص وي په مقدس شریعت کي ناروا او ناجائز عمل دي او دشرعي اصولو په رڼا کي هیڅ اعتبار نه لري خصوصاً دافغانستان اوسني قیادي شوري چي په هغه کي ددوستم په څیر پخواني دهري رژیم سترګوړاګي او داسي نور نامطلوبه عناصر شرکت ولري قطعاً دمنلو وړنده او نه به یي دافغانستان مجاهد او قهرمان ملت ومني که هر څوك داسي کار کوي او یایي وکړي هغه دپاك شریعت له نظره خائن او دمجاهد ملت له خوا سلب اعتماد دي دمسلمانانو درهبري دعوه نه شي کولای او داسلامي رهبري جوګه ندي .
۳-په اسلام کي مخلوط حکومت (دمسلمانانو او مرتدینو زنا دقوګړ حکومت) شرعاً جواز نه لري د افغانستان اوسني حکومت چي په هغه کي مجاهدین کرام ، مسلمانان او ملحد دهري رژیم بقایا حتي دهغو رهبران ، مبلغین ، استادان او سرسخته قاتلان له مختلفو قومونو لکه ازبك ، تاجك ، پښتون ، هزاره او داسي نور ګهون لري دسپیڅلي شریعت له نظره مردود او دمنلو وړ نه دي
۴-موجوده دولت چي په رأس کي رباني قرار لري او تردي پخوا په رأس کي مجددي قرار درلود او ددوي تر لاس لاندي وزیران او اکثره رئیسان مسلمانان او مجاهدین دي پدي خاطر چي داحکومت داسلامي اصولو مطابق دبیعت له لاري منځ ته نه دي راغلي او دقدرت ، تغلب صفت هم نه لري نو لدي امله ناکام او داسلامي اصولو په خلاف دي ، نو داسلامي دولت دجوړولو لپاره دشرعي اصولو سره سم مونږ په لاندي ډول غوښتني کوو :
الف-هغه جهادي رهبران چي داهل السنت والجماعة له ډلي څخه دي باید په خپلو مینځو کي یو دشرعي امیر په توګه تعین کړي تر څو اول دوي او بیا مونږ داتحاد علماء افغانستان غړي او جهادي قوماندانان او دینداره قومي مشران دهغه تعین او ټاکل شوي شرعي امیر سره بیعت وکړو او تعاون ، همکاري او دلازمي مرستي تعهد ورسره وکړو ولي په یو شرط چي هغه امیر به مونږ ته داسلام مقدس دین دقران ، سنت او حنفي مذهب په رڼاکي دنافذ کولو او پلي کولو په ټینګه تعهد او وعده راکړي .
ب- که چیري پورته کارنه شي کولای او غالباً چي وبه یئ نکړي نو دافغانستان دجهادي سنګرونو اتلو قوماندانانو او با عمله عالمانو او دینداره قومي مشرانو ته چي دشریعت له نظره دحل والعقد خاوندان بلل کیږي دهغه شوري دراوستلو اختیار ورکړي تر څو چي دشرعي مواصفاتو سره سم او ددولت دکمسیون

دطرحي په نظر کي نيولو سره په شرعي توګه راوغوښتل شي او دټولو فتنو فسادونو او خونريزيو مخه به ونيوله شي انشاُ الله

ج- درهبرانو دهيئت هغه طرحه چي دوي پري توافق ته رسيدلي دي که چيرته تش په نامه انتخابي توګه دټاکل شوو هيئتونو په ذريعه له ولاياتو څخه وغوښتل شي دالاندي مشکلات په ښکاره ډول ترينه معلوميږي

د- شايد داسي اشخاص رامنځ ته شي چي دغه جهادي تنظيمونو حتي دمجاهدينو او داسلامي نظام حکومت په خلاف وي او يا به پخواني بي دينه او کمونستي عناصر رامنځ ته شي او يا به غربي لاديني نظام او يا په غربي سيستم دمشرتابه غوښتونکي خلك وي .

هـ- دهر ولايت او ولسوالي دوګړو تر منځ دتصادم او دخونريزي خطرونه هم موجود دي .

و- مستنفعين درجي ته رسيدلي دي چي دبيت المال څخه بي انتها مصارف بي له شرعي اجازي شويدي که چيرته ټول يو ډول نماينده ګان راشي شايد پخپله دجهادي تنظيمونو مشرانو ته ددوي فيصله دمنلو وړنه وي نو په هغه صورت کي مشکل لاينحل او ټولمستړيا او مصارف به موعبث شي .

٤-که چيرته دوي مونږ ته اختيار دشرعي امير دټاکلو رانه کړي او پخپلو کي هم پر يوه توافق ونه کړي نو که هر مشکل رامنځ ته کيږي لکه دمخلوط حکومت په خپل حال پاته کيدل او دملت تر منځ خونريزي او تصادم راتلل او داسي نور نوددي ټولو مسؤليت به دجهادي رهبرانو په غاړه وي خداوند متعال او دافغانستان ملت ته به جواب ووايي او په خپل وخت به دخپلو جرايمو محاکمه او مجازات ووينې انشاألله-العزيز ځکه افغانستان دشهيدانو وطن او نبوي باغ او دقران او سنت کور دي نو هر عياش ، بي کفايت او خودغرض اشخاص دحکومت کولو حق نه لري که چيرته په افغانستان کي داسلام يودیندار بچي هم پاته وي خپل مخالفت ته به ادامه ورکوي انشا الله العزيز

(ومن الله التوفيق)




عضو اهل السنة والجماعة
عضو اهل السنت والجماعت افغانستان
جماعة الدعوة

مولوی محمد یوسف عضو شورای عالی اتحاد

ولایت پروان

قاری عبدالعزیز ولایت قندهار

ولایت قندهار

ولایت بکتیا

ناظم اهل السنه والجماعه افغانستان

اتحاد اسلامی

دفتحې اونصرت اساسي اومبرم شرط

الحاج مولوي جلال الدين «حقاني»

دالله تعالي دارشاداتو مطابق دمسلمانانو او مجاهدينو دبرياليتوب او دالله تعالي(ج) دمرستي او نصرت مبرم شرط په يوه صف كي تريوه واحد قيادت لاندي دهغوي دريدل او منظم كيدل دي .
پدي توگه الله تعالي(ج) دمجاهدينو برياليتوب او له دوي سره دالله تعالي له طرفه دفتحي او نصرت پيرزوينه دمجاهدينو تر وحدت او واحد زعامت لاندي ترمنظم كيدلو پوري مشروط گرځولي ده .
ددي معنا داشوه چي دمسلمانانو قوت ددوي اتحاد دي او كه متحد نه وو بيادي دالله تعالي دفتحي او نصرت توقع نكوي .
دمسلمانانو او مجاهدينو دكاميابي او فتحي شرط دادي چي دوي به په پوره يووالي سره تر يوه واحد قيادت لاندي راغونډيږي .
په تيرو څوارلسو كالونو كي دمجاهدينو بي سياله كاميابي او عظيم فتوحات او دروسي لښكرو او ملحد رژيم ماتي داټول دالله تعالي له طرفه لدوي سره يو فوق العاده فضل او كرم و چي دوي يي سره له اختلافاتو برياليي او سرلوړي وگرځول .
دجهاد په اوږدوكي سره له اختلافاتو دمجاهدينو متعدد فتوحات دا دالله تعالي له طرفه له عادت نه فوق العاده عفوه او تسامح ده چي له مجاهدينوسره يي كړيده .
دا لدي كبله چي دجهاد په جريان كي دښمن ډير قوي ؤ ،ډيري مدرني او وژونكي وسلي وسيلي او مهمات يي درلودل ، منظم او په عسكري او ستراتيژيكي اصولو برابري لښكري يي لرلي ، خوددي په مقابل كي مجاهدين بي وسلي ، بي وسه اوتش لاسي وو او څرنكه چي ددښمن قوت په اعلي درجه اولوړه سويه ؤ او ددښمن او مجاهدنو جنگي توازن او مناسبت په هيڅ برخه كي موجود نه و ځكه خو الله تعالي لدوي سره فوق العاده نصرت وكړ ددوي داختلاف له خطا او گناه يي عفوه او

په تیرو څوارلسو کالونو کې دمجاهدینو بې سیاله کامیابي او عظیم فتوحات او دروسي لښکرو او ملحد رژیم ماتې داټول دالله تعالی له طرفه لدوی سره یو فوق العاده فضل او کرم ؤ چې دوي یې سره له اختلافاتو بریالي او سرلوړي وګرځول دجهاد په اوږدو کې سره له اختلافاتو دمجاهدینو متعدد فتوحات دا دالله تعالی له طرفه له عادت نه فوق العاده عفوه او تسامح ده چې له مجاهدینو سره یې کړیده

تسامح وکړه او لدې کبله چې دوي ډیرلوی کارته اوږه ورکړې وه ځکه خویې ددوي داخطایې معاف کړه .

لکه مخکې مو چې وویل هغه وخت دښمن ډیر قوي ډیر ظالم او ډیر مجهز ؤ او موږ ډیر کمزوري، غیرمنظم او غیر مجهز وو له همدې ځایه وه چې مقابله دعقل او اسبابو او دکم او کیف دمرعات په آینه اودشریعت په میزان کې هیڅ ممکنه نه وه ، ځکه خو الله تعالی په مافوق الاسباب طریقه او دفتحې له شروطو پرته اولوړ له موږ سره نصرت وکړ خو اوس چې دښمن ضعیف اومجاهدین قوي دي ددښمن دمحوکولو ټول اسباب او وسایل ورته برابر دي او مجاهدین د داسې قوت توان او وسایل لري لکه مخکې چې دښمن درلود

اوس نو دمسلمانانو او مجاهدینو دکامیابۍ لپاره وحدت امرمبرم او ضروري دي

اوس الله تعالی ددوي لدغه خطایې نه تسامح او عفوه نکوي .

اوس دتفرق او تنازع او عدم وحدت دضعف او دنفس اوشیطان د هوی په پیروي دالله تعالی داوامرو خلاف زموږ ژوندن او اعمال اودضیعف دښمن په مقابل کې زموږ شکست او خپلو اهدافوته نه رسیدل داد الله تعالی ددغه مبارك ارشاد مصداق دي چې (یا ایهاالذین امنوالما تقولون مالا تفعلون کبر متقاً عندالله ان تقولوا مالا تفعلون -ان الله یحب الذین یقاتلون في سبیله صفا کانه بنیان مرصوص)

* * *

دسولې ،امنیت اوپو مستقر اسلامي حکومت دټینګښت په اړه واګمنو ته دالحاج مولوي جلال الدین «حقاني» وړاندیزونه او یاداشتونه

۱-دعلماوو او قوماندانانو په دومره جایزو غوښتنو او شرعي مطالبو تر اوسه له سره غور نه دی شوی داسې چې تر دي وخته یوه مطالبه هم ده منلې شوې ؟.

۲- دزندیقانو او دملت له مجرمینو سره دشریعت له مخې تر اوسه هیڅ چلند نه دی شوی او ددوي د محاکمه کولو په رابطه له ګنو او کلکو وعدو سره سره بیاهم هیڅ قدم نه دی

خو اوس چي دښمن ضعیف اومجاهدین قوي
دي ددښمن دمحوکولو ټول اسباب او وسایل
ورته برابر دي او مجاهدین داسي قوت، توان او
وسایل لري لکه مخکي چي دښمن درلود
اوس نو دمسلمانانو او مجاهدینو دکامیابي لپاره
وحدت امربرم او ضروري دي
اوس الله تعالي ددوي لدغه خطایي نه
تسامح او عفوه نکوي

پورته شوي ؟.

۳-دملیشه وو دوټلو او منحل کولو خبرو او وعده هم دیوي ډرامي بنه غوره کړي او تر اوسه یي ددومره وعدو سره بیاهم هیڅ دعمل جامه نده اغوستي ؟.

٤- هغه ډلي ته چي دفساد له مخي یي دشمال دعلماوو دعوه کړي او په ډیره بیشرمي دوستم ته مجاهد کبیر وایي او په قیادي شورا او اهل الحل والعقد کي غړیتوب غواړي ولي دفعالیت موقع ورکول کیږي موږنه پوهیږو چي حکومت لدي څخه خبر ندي که څنګه؟ حقیقي علما او قوماندانان لدي ناحیي په ډیر زیات تشویش کي لویدلي ؟

٥- دحزب وحدت سیطره ورځ په ورځ زیاتیږي چي لدي اړخه هم نوي تشنجات اوجنجالونه منځ ته راتلي شي پدي اړه دحکومت د بي غوري علت څه دي؟.

٦- دخاد اداره باید لغوه او په هرنوم چي وي باید فعالیت یي ممنوع وګرځول شي .

۷- دګډ جهادي پوځ او اردو جوړول .

۸-دملیشو او پخواني پوځ او قطعاتو بشپړ وتل اومنحل کول

۹- له دولتي،پوهنځي او ملکي ادارو دکمونستانو ایسته کول

۱۰- دملت دمجرمینو اوقاتلانو او دکمونستي رژیم دمشرانو نیول .

۱۱- دراډیو او تلویزیون دپروګرامونو اسلامي کول .

۱۲- داهل تشیع په نوم په حکومت کي دونډي دغوښتني ممنوع ګرځول

۱۳- ددفاع او کورنیو چارو وزارتونو دچارو اجراکول دوزارتونو دمقتدروشوراګانو په چوکاټ کي .

١٤-داسلامي مقرراتوله مخي دتعلیمي نصاب اودرسي پروګرامونو جوړول

۱۵-په نوروتنظیمونو دیوه تنظیم دقوت دپیاوړي کولو مخنیوي .

۱۶- دژوند په ټولو اړخونوکي داسلامي شریعت داحکامو تنفید .

۱۷- دشرعي حجاب بشپړمرعات

۱۸- حنفي مذهب دهیواد دیواځیني رسمي مذهب په توګه اعلانول .

اتحاد علماي افغانستان له منبع الجهاد سره په مرکه کې:

موږ په افغانستان کې داهل الحل والعقد له لارې پداسې طريقه چې آسانه او دفتنې او فساد څخه مصؤنه وي دشرعي اصولو سره سم دامير ټاکل غواړو

کله چې دمنبع الجهاد مجلې داتحاد علماي افغانستان له مشر محترم ذاکرې صاحب سره دمرکې هيله څرگنده کړه نوې دخپلو گڼومصروفيتونو له مخې دتحريري پوښتنو غوښتنه وکړه څوورځې وروسته مو دهغو پوښتنو تحريري ځوابونه داتحادعلماءله دفتر نه ترلاسه کړل چې دادې دهغې بشپړمتن درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي «اداره»

پوښتنه : که مهرباني وکړی دعلماؤ اتحاد دتاسيس ، اهدافو او فعاليتونو په رابطه معلومات راکړی ډيره مهرباني به مووی ؟

ځواب : څرنگه چی علماء په اسلامی جامعه کی زيات مسؤليت په غاړه لری نو دافغانستان رباني علماوو په هر وخت او زمان کی دکفر او الحاد په مقابل کی خپلی هلی ځلی کړی دی چی دافغانستان مسلمان ملت ته واضح دی او کله چی الحادی نظام په افغانستان کی راغی نو علماؤ دهغه په مقابل کی جهاد اعلان اوفتواوی صادری کړی اودافغانستان ملت دهغه ملاتړ وکړ چی دهغه په نتيجه کی په ټول افغانستان کی عمومی جهاد شروع شو اوپه دی جهاد کی ډيرو علماؤ او طالب علمانو عملاً اشتراك وکړ ددوی زيات کسان شهيدان هم شول اوددی ثبوت لپاره داکافی دی چی همدا اوس زيات مشهور قوماندانان عالمان دی .

علماؤ اگر چه دهجرت په ساحه کی په جهادی تنظيمونو تقسيم شول اما ددوی هدف داؤ چی په خپل هر يو تنظيم کی دعلم په رڼاکی دجهاد شرعی رهبری وکړی او منظمات او مجاهدين يووالی ته دعوت کړی چی دعلماؤ په دی جد او جهد څوواری دټولو جهادی منظماتو په منځ کی اتحادونه هم تشکيل شول.

علماؤ د شوری مشورتی په جريان کی بارز رول ولوبولو او ددوی په سعی او کوشش سره مشورتی شوری وکولای شو چی يو مؤقت اسلامی حکومت تشکيل کړی .

بايد ووايو چی په دي ټولو جرياناتو کی کوشش روانؤ ترڅو دټولو منظماتو علماء په خپل منځ کی رابطه او اتحاد قايم کړی اما په منظم صورت سره اتحاد صورت نه ؤموندلي ترڅو داول ځل لپاره په (۱۳٦۷) هـ ش کال دحوت په مياشت کی دافغانستان د ټولو مجاهدو علماؤ لخوا په افغانستان کی ديو سالم اسلامی قيادت د مينځته راوستلو په خاطر اوهغو مهمو اسلامی اهدافو په ملحوظ دجنوب لويديځ دولايتوعلماؤ دجناب ذاکری صاحب په مشری او جنوبی ،شمالی اوشرقی ولاياتوله علماؤ سره په پيښور کی راټول او داتحاد علماؤ لخوا يو منشور جوړ او توافق راغی او علماوو په دی سره او خپله کړنلاره وټاکله هغه منشور پنځه فصله او ٤٤ مادی لری چی دهغو له جملی څخه دالاندی مادی دپوره توجه وړدی چی له منشور څخه يې ټکی په ټکی درته نقل کوو.

١- تعقيب مستمر از سياست اسلامی درمسائل فردی واجتماعی وهمه ساحات زندگی .

٢-سعی وکوشش مزيد بمنظور ايجاد حسن تفاهم ووحدت هرچه بيشتر بين علماء افغانستان .

٣- جدوجهد بليغ بمنظور تطبيق وانفاذ شريعت اسلامی وپيروی کامل ازهدايات قران کريم وسنت نبوی(ص) ومذهب حنفی درمحاکم وساير امور زندگی :

٤- ازبين يردن هرگونه قوانين ،

مـقـرارت ، تـعـامـلات ، وعـادات مخالف شریعت اسلامی .

٥- جلوگیری از هرگونه انحرافات دینی ومفاسد اجتماعی واخلاقی

٦- پشتیبانی ازحرکت های سالم اسلامی به سطح بین المللی .

٧- جدوجهد مستمردر راه وحدت قیادت های جهادی وقیام یك حکومت عدل اسلامی در افغانستان. ٨- کوشش نمودن درراه اصلاح ذات البینی وایجاد روحیه اخوت درهمه قشرهای جامعه.

٩- سعی در احیاء حقوق افراد وطبقات جامعه افغانستان.

١٠- اشتراك درنصاب تعلیمی افغانستان ونظارت امور تدریسی در مکاتب لیسه ها وجامعه ها .

١١- احیاء همه حقوق طبقه نسوان وطلب حجاب قرانی وجلوگیری ازتعلیم وتعلم انها برطبق قوانین عصری غیراسلامی .

١٢- نظارت از نشرات وکتب نووارد وجدید التالیف از نگاه شریعت اسلامی .

١٣- نظارت ومراقبت ازهمه مقررات وقوانین مخصوصاً قوانینکه درباره دولت جدید افغانستان وضع میگردد نظر وتائید اتحاد علماء شرط اولی بوده است .

١٤- تصمیم روحیه اسلامی جهادی افغانستان بوسیله تأسیس مدارس دینی وحلقه های تعلیمی وتبلیغی

موږ په افغانستان کی داهل الحل والعقد دلاری د شرعی اصولو سره سم امیر ټاکل غواړو البته داکار په داسی ترتیب غواړو چی اسانه او دفتنی او فساد څخه مصؤن او سالم لاره وی ، او دا امیر به موږ سره تعهد وکړی چی دژوند په ټولو ساحاتو کی داسلام سپیڅلی نظام په پوره توگه پلی کوی او باالمقابل موږ به ددی امیر سره بیعت اواطاعت کوو .

درهمه مناطق افغانستان .

١٥- ارشاد ورهنمایی درمسائل دینی وموضوعات اسلامی ازطریق فتوی ها ونشر رسایل وکتب مذهبی وجلو گیری از نشرات ضد اسلامی ومذهبی .

١٦- برای اینکه در اینده از تکرار واقعات ناگوار هفت ثور سال ١٣٥٧ هـ ش جلوگیری شده باشد لازم است اراکین وزوات مهم دولت اینده افغانستان خصوصاً وزارت دفاع ومعارف از جمله اشخاص مجاهد دانسته ، مشهور بصلاح ودارای عقیده اهل السنته والجماعته باشد ودر فصل پنجم مواد متفرقه اتحاد علماء افغانستان نیز مواد ذیل تحریر شده است .

٣٢- منظور اتحاد بر اوردن کدام اهداف مادی وسیاست غیر مشروع نبوده بلکه منظور ازان فعالیت منظم علماء کرام است در راه اعلاءکلمة الله ووحدت بیشتر بین علماء ورفع مسؤلیت انها درزمینه .

٣٣- این اتحاد مربوط کدام تنظیم خاصی نبوده ونه برضد کد ام تنظیم جهادی میباشد .

٣٤- این اتحاد علماُ وطلبه علم مختصص بکدام منطقه ،زبان ،قوم نبوده بلکه همه علماء بدون تبعیضات متذکره می توانند در ان شامل گردد .

٣٥- کسانیکه به یکی ازاحزاب ضاله وملحد منسوب باشند به عضویت این اتحاد پذیرفته نمی شوند ...

٤٠- برای طلبه علوم دینی وصلحاء شمول عضویت این اتحاد مجاز وازجمله علماء شمرده می شوند .

٤٣- اشخاصیکه در شورای عالی حکومت اسلامی افغانستان انتخاب می گردد لازم است اصحاب حل وعقد باشند تاتعین امیر عمومی حکومت اسلامی بطریق اسلامی کرده باشند وان امیر عمومی مطابق شریعت نبوی (ص) شرائط امارت را دارا باشد ، ملخصاً

٤٤- بعد از فتح افغانستان عزیز کدام تحزب وتفرق که ضد اسلام وخلاف دین مبین باشد حتماً تا ابد [ممنوع] وفاعل ان مجازات گردد .

پوښتنه :شپږمیاشتی وشوی چی په کابل کی دمجاهدینو په نوم حکومت ټینګ شوی تاسی ددغه حکومت شرعی، حقوق او قانونی حیثیت څه ډول ګڼی ؟

ځواب : په افغانستان کي دجهادی تنظیمونو مشرانو له خوا اسلامی حکومت اعلان شوی ولی شرعی اجرآت تر اوسه ندی پیل شوی او دکمونست رژیم بقایا په ملکی ادارو او نظامی قطعاتو کی دقدرت واګی په لاس کی لری او سترګو حجاب ندی عملی شوی نشرات داسلامی اصولو مطابق ندی عیار شوی پوره اسلامی نظام ندی تطبیق شوی او بیعت نه صورت موندلی لدی امله موږ ورته پوره اسلامی حکومت نه شو ویلای او د موجوده دولت په ریاست دشرعی خلافت ، امارت او امامت حکم نه شو کولای .

پوښتنه : دراتلونکی لپاره دحکومتی نظام په رابطه تاسی څه طرحه او پروګرام لری ؟

ځواب : موږ په افغانستان کی داهل الحل والعقد دلیاری د شرعی اصولو سره سم امیر ټاکل غواړو البته داکار په داسی ترتیب غواړو چی اسانه او دفتنی او فساد څخه مصؤن او سالمه لاره وی ، او دا امیر به موږ سره تعهد وکړی چی دژوند په ټولو ساحاتو کی داسلام سپیڅلی نظام به په پوره توګه پلی کوی او بالمقابل موږ به ددی امیر سره بیعت اواطاعت کوو .

پوښتنه : که په کابل کی بیا خپلو روانو فعالیتونو او هلو ځلو ته په تفصیل سره رڼا واچوی ډیره مهربانی به مووی ؟

ځواب : موږ چی کابل ته راغلو نو ددی څخه وړاندی ان دپروسږ کاله څخه داهل الحل العقد اسلامی شوری لپاره یوه طرحه له ځانه سره درلوده چی په انتصابی ډول تشکیله شی او هغه طرحه راسره قوماندانانو ، قومی دیندارو مشرانو او داسلامی نهضت غړو ټولو ان . دجهادی تنظیمونو تر رهبرانو پوری تائید کړیوه هغه مو دوی ته وړاندی کړه البته هغه د قیادی شورا داکترو غړو له خوا رده شوه بیا مو هر یو جهادی مشر ته په جلاپانه کی خپلی دری مطالبی په لاندی ډول ولیکلی:

۱- تاسو به خپل مینځی ټول اختلافات او شخړی قران او سنت ته محول کوی.

۲- تاسو به خپلوکي داهل السنت والجماعة او وجهادي مشرانو څخه یو تن دشرعی امیر په توګه وټاکی تر څو تاسو په خپله اودافغانستان دمسلمان ملت نور غړی ورسره شرعی بیعت وکړی او هغه بیا دشرعی امیر په حیث پاتی شی .

۳- که تاسو پدی ونه توانیدی نو ددی کار اختیار د اهل العقد والحل موجوده مجلس ته وسپاری تر څو نرته یو شرعی امیر وټاکی او ددی کار تاخیر هیڅ جواز نه لری .

ددی لیک ځواب داکترو جهادی تنظیمونو مشرانو له خوا موږ ته راکړل شو البته داستاد ربانی او پیر سید احمد ګیلانی له خوا هیڅ مثبت یا منفی ځواب ورنکړای شو .

بیا مو دا خپلی دری شرعی مطالبی درهبری شوری مجلس ته وړاندی کړی البته هغوی هم ځواب رانکړ .

په پای کی مو دجلا وړاندیز په ترڅ کی ترینه غوښتنه وکړه چی موږ دهغه طرحی دتطبیق په لړ کی پوره همکاری ته حاضر یو چی ددولت دکمسیون له خوا ترتیب شویدی تر څو داهل العقد الحل اسلامی شوری زر ترزره جوړه شی متأسفانه هغوی له دی څخه هم انکار وکړ موږ اوس دیو متبادل صورت په تکل کی یو چی لاتر اوسه ندی تکمیل شوی.

پوښتنه : دعلماؤ اتحاد او قوماندانانو شوری مشترکه طرحه او پروګرام لری که څنګه هیله ده پدی هکله دمجلی لوستونکو ته معلومات وړاندی کړی ؟

ځواب : دڅلورم سوال په ځواب کی څو مولیکلی دی داد علماؤ داتحاد او دقوماندانانو شوری مشترک فعالیت او کارکرده ګی ده .

جهادي ادب

خدایا

الهي ده نجات این ملت ما
ازین درد وغم واین غفلت وخواب
ببراین روزگارتیره وتار
بحق مصطفي وال واصحاب

* * *

خدایا شام این ملت سحرکن
نگاهي سوي این کوه وکمرکن
نظام بي نظام ما دوباره
دگرگونه چودوران عمرکن

په غم غمڅن انسانیت دپاره
موږه ښادي غواړو راحت غواړو
موږدنیا په هره ګمکه باندي
ښکلي نظام دشریعت غواړو

دافغانانو دا یو شعاردي
تري خبر شوي هر استعماردي
ازادقام دي ازادبه اوسي
خاوند ورکړي داسي کوهساردي

ترخوبه

اختر محمد «قادري»

ترخوبه افغانانو کښي داور لمبي بلیږي
ترخوبه په ناحقه دمظلومویني بهیږي
ترخوبه داجنګونه بدبختي وي په وطن کښي
ترخوبه دښمني وي وروړله وروړسره جنګیږي
ترخوبه خپل له خپله سره وي لاس په ګریوان
ترخوبه په لمسون دغمازانو نه پوهیږي
ترخوبه وي بي فکره داچي ځان بولي مشران
ترخوبه په سبب داقتدار سترګي پټیږي
ترخوبه وي بي قدره دوطن خدمت کوونکي
ترخوبه په هرځاي هره کوڅه کښي وژل کیږي
ترخوبه ترپښولاندي وي حقوق دافغانانو
ترخوبه داژوندون دغلامي پرموږتیریږي
ترخوبه طبیبان دمرض نه وي پیداشوي
ترخوبه مریضان په رنځ اخته وي نه جوړیږي
ترخوبه انتظار وي دعاشق ومحبوباته
ترخوبه داوعدي دبیوفانه پوره کیږي
ترخوبه دخزان سپیره بادونه وي جاري
ترخوبه دبهار تازه ګلونه نه غوړیږي
ترخوبه توره شپه وي په وطن کښي مسلطه
ترخوبه تروږمي وي اخر لمرخوبه راخیژي
ترخوبه وي غمونه راشي جوړه کړوخندا
ترخوبه «قادري» پرخپل وطن باندي ژړیږي

ننگيالو ته

سعيد «رهبر»

اي دحق په شمع سوو پتنگانو
اي دميني خوږي ميني سربازانو
دضمير اود شعور په لوي اقليم كښي
اي بې تاجه تاريخ سازه بادشاهانو
دانسان له مال وسره زاريدونكو
په عصمت دزماني قربانيدونكو.
دنړي دجمعيت دهدف لاركښي
په سامراج باندي غاښونه ماتوونكو
اي دميني دتاريخ امانتدارو
دوفا دكاروانونو فداكارو
دژوندون اودروزگارپه هنگاموكښي
دانسان دخوشحالي امانتدارو
ظلم زور چي وركوي داموتكل دي
ماتري زاركړي انقلاب مو مكمل دي
جهانونه مو لوگي شه استدلال نه
دنړي دمسايلو دغه حل دي
دا اعزاز دننگ او پت مو مبارك شه
داتوقير او لوي عزت مو مبارك شه
داسلام دتحفظ په هرسنگر كښي
دجهاد دافضيلت مو مبارك شه
سامراجيان مو چي تش نوم اوري رپيږي
استعمار موچي اوازاوري لړزيږي

دسامراج دظلم زوروركي پوره شوي
دنصيب ستوري يي ودځ په ودځ غورزيږي
دغه زيري مي درباندي غيرتيانو
اي دپاكو تحريكونو رهبرانو
كامراني دننگيالو په تندي ليك ده
تل به تيټ وي درته سر دغليمانو
دايمان او ديقين په هركتاب كښي
دامضبوط دليل ګلېږي په هر باب كښي
چي دحق هرمرستيال به سرخرووي
دباطل هريو بچي به وي عذاب كښي
امريكه ده اوكه روس كه دلسي نوردي
له هيبته درته ښنوكښي رانسكوردي
لړزيدلي يي دمكر دنياګاني (ده)
دحسرت چيغي يي ګډي كور په كور دي
مسلمان به تل ترتله سربالاوي
سامراجيان به ورته ښكته په دنيا وي
زموږ غږ دهر غليم دسراجل دي
غليمان به هميشه په واويلا وي
ټول جهان مو احترام كوي غازيانو
اي دننګ دهرسنګر مجاهدانو
دايمان دخاوندانو تندي روڼ دي
بريالي به وي مدام په دښمنانو

لنډه کیسه

د زوی مینه

ژباړن : عوض الدین «صدیقي»

خوش بخته دی هغه چی په روسیی کی زیږیدلی وی !!..... خوږه هغوی کی زما زوی شامل نه دی ...کاش روسیه ځلور کونجه دنیا ونیسی !؟...کاش زما زوی بهرته لاړشی !...موږ روسان یوونړی زموږ لپاره ده .... نن توله نړی زموږ ده .... ټول زموږ دی خو یوزوی زموږ نه دی !!... «زما زوی دانه څه وایی .... زموږ روسیه زموږ روسیه ! دا څه درفشانی کوی ....»

دښځی او میړه تر منځ دا ډوله خبری تل روانی وی اودی خبرو به تل ددوی په مینځ کی خپګان پیدا کاوه د هری موضوع په باب ددوی نظریات جلا جلاو چی د«ساهمن»له خولی به دخپل هیواد په ګټه خبری ووتی « ایرینا » به دزوی دلیدو ارمان کاوه چی کابل ته خپلو ماماګانو کره تلی و ښځه اومیړه په یوی ګرمی کوټی کی ناست و ، او چای یی څکه بهر واوره وریده د ونو څانګو څخه پاڼی توی شوی وی او وچ لرګی ګرځیدلی ؤ، ایرینا » به چی داحالت ولید په زړه کی به یی دزوی دبیلتون اور ژبغرانده شو او دمخکنی حالت څخه به لا په غصه شوه چی «ساهمن» به خبره وکړه دی به ځواب ورکاوه ، دواړه غلی شول چی «ایرینا»«ساهمن » غلی ولیدورته وی ویل :

«کاینا » دری ورځی وروسته کابل ته ځی ، ما هغی ته وویل په هره بیه چی کیږی «اندری» راولیږی ، ما هغی ته د«اندری» په نوم یو لیك هم ورکړ، که ته غواړی نور څه هم ورته ووایه تر څو !!....

«کاشکی کابل دروسیی لپاره یو بل تاشقند وګرځی » دازمادخبری ځواب نه دی .... ته نه غواړی چی «اندری» بیرته راشی ؟!

ته دروسیی عظمت نه غواړی ؟!

ایا دروسیی دعظمت لپاره ته خپل خوږ زوی قربانوی ؟

دروسیی دعظمت په خاطر زه دهر څه قربانولو ته چمتو یم ، ته لیونی یی .

ته نه پوهیږی روسیه نن دنړی نظام بدلوی...نو «اندری » په دی برخه کی څه کولی شی ؟!

هغه خپل نقش لوبولی شی .

هغه هیڅ هم نشی کولی تراوسه یی تعلیم نیمګړی دی ...

هغه تر اوسه دژوند په باب فکر نه دی کړی ....

«هغه دهر څه په باب فکر کړی ډیر تکړه دی» هر څه کولی شی که هغه ته وخت ورکړ شی هر څه به وکړی خپلو بی ځایه جذبو باندی به هم حاکم شی ... دهغه په زړه

کی زیاتی هیلی دی ...اخرهغه خپلو ماماګانو سره دي دکومی تختول شوی الوتکی مسافرخونه دی » .

«ماته ښه معلوم دی چی زما زوی څه دی زما روژنی له هغه ډیر تکره ځوان جوړ کړی که هغه ته دتاپه شان یوه پخوانی تورزن روزنه ورکړی وی نن به دخاورومیلمه وی .....هغه پخپله دلته دراتګ په هیله دی .

هغه دا هیله نلری ته داهیله لری اوبی عقله یی !!

ماته همدومره عقل بس دی چی دخپل زوی سلامتی غواړم دی ته ، ته عقل وایی که تاکی عقل وی نو هغه ته به دی دافغانستان څخه دراتګ نه وی ویلی، هغه هلته خپله دنده پر مخ بیایی خو ته وایی چی هغه نه هلته څه کولی شی نه دلته .... روسیی ته سخاروف او سولژنتین څه نه دی کړی دی به څه ورته وکړی .

«ساهمن » نور څه ویل غوښتل چی مزدور یی راننوته اووی ویل :

دایرینا سره دلیدو په خاطر څو ښځی راغلی او دننه کوټه کی ناستی دی ... ساهمن په غصه وویل :

دی ښځو ته دی سره لیدل دومره خوارده دی چی په دی واوری کی خپل کورونه پریښودلی ایرینا هیڅ ځواب ورنکړ جګه شوه اوراووته .

په راتلونکی ورځی ساهمن ماښام په داسی حال کی ایرینا ته راغی چی په څیره کی دغصی نښی ښکاریدی ، غصه پری غالبه وه ، دخبرو څخه یی هم دقهر او غضب حالت ښه څرګندیده ایرینا چوپه وه او یوه دراندہ چورت کی ډوبه ، ساهمن ورته وویل :

ایرینا ما چی څه اوریدلی رښتیادی ؟

ماته څه معلوم دی چی تاڅه اوریدلی .

ما اوریدلی چی ته داحتجاجی مظاهری کوونکو له جملی څخه یی ، په دی خاطر زیاتی ښځی هم له تاسره ګوری

ماته داهم ویل شوی چی تاسو په ګډه یو اوږد احتجاجی لیک لیکلی او پر هغه مو لاسلیك هم کړی ایا داړښتیا دی ؟!

سل په سل رښتیا دی ما غوښتی دی چی د افغانستان جګړه کی دمړو شو روسانو قبرونه دی موږ ته وښودل شی تر څو موږ ورشو او ګلان پری وغوړوو ، داکوم بد حرکت نه دی کومه بی ځایه غوښتنه نه ده .

ایرینا !ته پوهیږی چی په روسیه کی یی انګلستان کی نه یی ، تاددی اقدام د انجام په باب فکر کړی ..... انجام یی ډیر ساده دی موږ ته دی دمړو قبرونه وښیی تر څو مطمین شو .....افـ ایرینا » !په تاڅه شوی .... ته نه پوهیږی چی ددی کار انجام به څه وی .... ددی پرته خو زه کوم بل انجام باندی نه پوهیږم .

ایرینا په هوش راشه .... ایرینا تا څوك پوه کړی ؟!

تورن ساهمن!

دتورن ساهمن ته کله اوری ؟

ساهمن زه پوهولی کله یم

ګوره ! که حکومت موږ ته ددی ورکی هدیری پته راکړی ، دابه ډیر ښه وی ، ښایی اندری به هم کله دی هدیری که خښ شی بیا خوبه موږ ورشو ، په دی وخت کی دایرینا غږ ډرشو .

ساهمن دتګ په حال کی وویل :

ایرینا !اندری خو به پوځ کی نه دی ؟

ماته معلومه ده چی هغه پوځ کی نه دی ، کابل کی دی خو کابل غیر امنیتی ځای دی ، کاشکی هغه زما زوی نه وی ......»

نور ایرینا دڅه ویلو توان نه درلود ، په ژړا شوه او سترګو کی اوښکی راغلی ساهمن دځان سره خبری کولی اووت :

یوه میاشت وروسته کاینا اندری دڅان سره راوست ایرینا وارخطا یی کمه شوه ، بی قراری په قرار بدله شوه او داندری په راتګ سره زیاته خوشحاله شوه هغه په پوځ کی دتللو اراده پریښوده ، دراتلونکی لپاره یی پروګرام جوړاوه ایرینا لږ شانی ارامه شوه چی اندری راغلو خو په بل مصیبت اخته شوه هغه د ساهمن خپګان ، او بد چلند ته په فکر کی وه چی اخر ساهمن باندی څه وشول ؟ ... ساهمن خو کله هم داسی نه و شوی ؟ هغه باید داندری په راتګ خوشحاله وی خو په غصه بیا ولی دی ؟ زما په خبرونه وی خپه شوی ؟ زه به کوښښ وکړم چی خوشحاله یی کړم

####

یوه ورځ ایرینا او ساهمن په کورکی یواځی و ، ایرینا داندری لپاره یو دسمال جوړاوه ، ساهمن په کوټی کی طاقت نه کیده هغه څه ویل غوښتل خو چی دایرینا حالت یی ولیده څه یی ونه ویل بیایی په تنده لهجه وویل :

اندری راغلو نورڅه کوی ؟

څه به حتماً ورته کوم چی څه یی خوښه وی هماغه به ورته کوم .

هغه څه خوښوی ؟

دهغه څخه ولی نه پوښتی ؟

پوښتلی می دی خو ځان تیروی .

ښه کوی .

څنګه ښه کوی ؟

څه چی کوی

څه کوی ؟ ایرینا او ساهمن یوه بل ته ډیری نیش داری خبری وکړی او اخر ساهمن چوپ شو ، ایرینا وپوهیده چی هغه یی شاته غرمیږی او بد حالت کی دی ، ایرینا ته به دی خبرو خوند ورکاوه ، وی لیدل چی ساهمن یی شاته دریدلی دواړه لاسونه یی پرولو دی او لړزیږی بیا په جذبي ډك غږ خبری واوریدی :

ایرینا ! ایرینا چوپه وه

ایرینا ماته نور څه ویل ممکن ندی ما د زړه له تله غوښتل چی اندری دی راشی خو په روسیی کی داخبره سخته ده .....ایرینا په غصه شوه : زه یی نه منم .....زه یی نه منم ، تاخو هغه دروسیی دعظمت لپاره قربانولو ....»

ایرینا هغه خو هسی خبری وی .... داتولی تامنلی وی .....ایرینا غلی شوه ، ساهمن یی له ولو لاسونه راکوز کړل ، او مخ یی بل خواواړاوه ، دوه دری ګامه لاړ ، کوټی کی چوپتیا خوره شوه ایرینا په تمه وه چی ساهمن به څه ووایی خو ساهمن څه ونه ویل ، چوپتیا لا زیاته شوه ورو ، ورو دا د ایرینا پر اعصابو بد ولګیده ، نور ورته دزغملو نه و، دساهمن خواته یی ولیدل او بیرته راوګرځیده دساهمن سترګی تکی سری شوی وی ، هغه دغصی دقرار ولو په خاطر هلی ځلی کولی پر دسمال یی غوږ پاکاوه ایرینا پر ځمکی پښی تینګی کړی داحالت ورته دزغم نه و ، تول وجود یی لړزی ونیوه ناځاپه یی وویل : ساهمن !!

ساهمن وروسر وخوراوه ، بیا ایرینا په خواره غږوویل : ایا دا تا توکی کولی یاتا ددی دپاره داخبری کولی چی زه داندری په راغوښتلو کی لا اسرار وکړم

ساهمن په دد غږ وویل :

هو ایرینا! ماله دی زیات څه نه غوښتل .

ما دروسیی حالت لیدلی .... ماته ددی خبرو انجام معلوم ؤکنه نو پلار دزوی دښمن نه وی

پوهیږي ! !.....

دالحاج مولوي جلال الدين حقاني لخوا په کابل کي دوه مدرسي پرانستل شوي

دالحاج مولوي جلال الدين حقاني لخوا دکابل دپلچرخي په سيمه کي دمخزن العلوم اوخيرخانه مينه کي دنعمانيه دارالعلوم په نوم دوه مدرسي پرانستل شوي په مخزن العلوم مدرسه کي طالبانو زده کړي پيل کړي اودنعمانيه دارالعلوم دوداني کارپيل شوي چي انشاء الله ډير زر به سرته ورسيږي اوترهغي وروسته به زده کوونکي خپلي زده کړي پيل کړي

که پادشاه د درست جهان یم

غلام ستا ماه تابان یم

احمد شاه بابا

که هر څو په بهار درومم

آخر پاتې د خزان یم

د عزیزالدین وکیلي په قلم